بسم الله الرحمن الرحيم

# دکتاب ځانګړنې


د کتاب نوم : رښتنی استازی

لیکوال : استاد نوراحمد (( قرانمل))

خپرندوی : سنځرخپرندویه ټولنه ((کند هار ))

چاپځی : یونایټیډ پرېس - کوټ

د چاپ کال : ۱۳۸۶ لمریز کال دلړم میاشت

چاپ چاري: حاجي عبدالله علیزي

www.Ketabtoon.net

www.LarAwBar.com

# لړلیك


۱. د سر خبري
۲. رښتنی استازی
۳. حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم)ديوه مبلغ په توګه
۴. حضرت محمدرسول الله(صلي الله عليه وسلم)ديوه سياست پوه په توګه
۵. حضرت محمد(صلي الله عليه وسلم)ديوه ښوونكي په توګه
۶. دحضرت محمد رسول الله(صلي الله عليه وسلم ) تدريسي مېتودونه
۷. پای

## د سر خبري :

له همغي ورځي څخه چي لوي الله(جل جلاله )) انسان ((آدم عليه السلام )) پيداکړ ي او پر مځکه يې باندي يې دخپل استازي او خليفه په توګه وګمارۍ انسان ته يې دخلافت استازيتوب ور بخښلي دئ انسان يې دنورو مخلوقاتو په پر تله مکرم ګرځولي ددې خبري دثبوت لپاره پخپله دکلام او تميزموجوديت او په نورو مجسمو مخلوقاتو کښي دانسان ښايسته ګرځول، هغه ښېلګي دي چي دنورو حيواناتو په پر تله انسانان د((احسن التقويم )) په مصداق ستايل سويدي ، دانسان دا کرامتی مظهر پخپله دهمدې نسل ديوه بې ساری انسان حضرت محمدرسول الله ((صلي الله عليه سلم ))رسالتي دنده ده ، الله((جل جلاله )) دې انسان حضرت محمدرسوالله((صلي الله عليه وسلم))ته ددرنښت په موخه د(( محمد رسول الله صلي الله عليه وسلم)) خطاب کړی دی پر دې بنسټ يې دهمدې کرامت دثبوت لپاره دهغه په وجود کې هغه خواص او ،اوصاف ايښي دي چي دنورو انسانانوپه وجودکې يې ساری نسته،حتی که دده هم مسلکه پيغمبران وګورو دنبوي (ص)) دپيغامونو پر بنسټ لکه چي فرمايي :- انا سيد ولد آدم )) کره دليل دئ چي حضرت محمد (ص) ترنورو پيغمبرانولوړ تره بلل سوئ دئ ، حضرت محمد رسول الله ((صلي الله عليه وسلم )) دخپل مسلکيت او مسؤليت پربنسټ يوازي دبلني له لاري نه بلکي دويناوعمل په تساوي سره داجوته کړېده چي هغه په اداب معاشرت ، انساني کرامت ، استادانه مهارت ، سياسي هنر يت ،اجتماعي ژوندانه ،تقوي او هوښياری کي دا سي يوځوك وو چي دخپلي عقيدې دپيروانو تر څنګ دلادينو مفکورو ښتنان هم پدې باوري وه چي دنورو انسانانوپه پرتله حضرت محمدرسول الله(صلي الله عليه وسلم )سترانسان دی اودخپل دې سترتوب په سکاسويې هغه څه تر شاپرېښي دي چي دوخت اوزمان له هر رازشرايطوسره ـ سره دعمل په ترسره کولوانسان دنېکمرغۍ ترپړاوه رسوي اوهغوي ته هغه لاره په ګوته کوي چي دمعنوي اومادي جهان خيراو ښيګڼي ور ته ټاکي،متاسفانه دصدراسلام تردورې راوروسته په منځنيو پيړيو اودموجوده اسلامي نړۍ واکمن کسان چي دوخت په تېرېدويې دنومورړي له ارشاداتواولار ښوونو څخه په ځينو مواردو کي سيراړولي،يامسلمان امت دغفلت په صورت کښي دهغه دسننواولارښوونوڅخه محروم پاته سوي پايله يې همدا لامل سوي دي چي مسلمانه ټولنه نه يوازي دا چي دبې موجوبه قرباني دلومي په ښکيل کي را غلې ده ، ((سياسي جغرافيوي)) قلمروونو اوسياسي geopoliticalور سره ترڅنګ يې داسلامي نړۍ په نظامونوکښي دټکر او تزلزل زلزلې را منځته کړي او اسلامي امت ديوې بې سالاره قافلې،او بې چوپانه رمې پشان دسرګرداني پردښته ايله کړيدي دي،البته هغه اسلامي اراضي چي دالبرز له غرونونه نيولې دافريقاتوترتبجنودښتونوله هغو نه نيولي دهندبحرترڅنډو ،له هغه نه نيولې دقفقازترغرونوچي يې ديوه متحدملت اوعقيدتي امت ترمنځ ديووالي اوپيوستون مزي ټينګ کړي دهمدې اراضۍ پرغولي مېشت اوسني وېشل

سوي ملت نن دځوپنځوسوملتونو ترويش سربېره چي پخپلومنځونو کي لاس او ګرېوان دي اوعملاًسټونزي لري تردې وړاندي لا پخپلوملي دولتونوکي هم دقوميت اوقبيلويت په رنځ اخته اود............غوندي مخ په مخ بيديږي چي اقتصادي اوکاني زېرمي يې دنوروپه لاسوکي لوبيږي اوسياسي واکونه يې دناسنجول سووپلانونواوناتکميله نړيوالوقوانينودشعاعوترتاثيرلاندي را غلي او په پايله کي دانار شيزم اوګډوډۍ پر لورودرومي که موږ دصدراسلام ددورې پشان ځانونه دعمل اووينا په درشل کي مساوي کړيواي اودسترانسان حضرت محمدرسول الله (صلي الله عليه وسلم ))فرامين موعملاًاونظراًعملي کړيواي نوداسي مسايلوسره چي نن بې الهي فضله په بل څه کي دحل لاره نه موندل کېږي نواي لاس او ګرېوان .سره تردې چي دابايدموږ دحضرت محمد رسول الله (ص) په پاکوسننواودمجتهيدينوپه هڅوکي موندلي واي هغه مونه دي کړي ددې څخه باوجودپه ځينومواردوکښي داچي موږبايد داسلام واساسي قوانينوته ځاوروچوو اوهماغه قانون ځانته ديوې خطي مشي په توګه وټاکو بلکي ((العياذبالله )) اسلام دخپلي طبعي وقانون ته ور اچوو زموږدموجوده بدمرغيولامل داګرځېدلی چي ډېرڅه داسلام په نوم دځان پر ګټه راوڅرخووحال داچي انسان پدې مکلف دئ چي بايدځان داسلام داصولووچوکاټ ته ورواچوي موږدالله((جل جلاله )) له دې فرمانه چي فرمايي (( لاتشترو باياتي بثمن قليلا ))• ځانونه نه خبروواوکه يې خبروونوبيا هم په حيلو ،حيلو له هغوي ((العياذ بالله )) فاصلې نيسو حال داچي موږبايدووينااوعمل په دواړوصورتونوکي دحضرت محمد رسول الله (صلي الله عليه وسلم ))دميراث ښوونکي واوسوددې څخه باوجود که موږ په داسي موقف کي ((خداي دي نکړي )) قرار لرونور به هم خواران سو تر دې سربېره بايد خوښ واوسوچي بياهم دنوموړي دارشاداتو فرامينواوتوصيودعملي کولو لپاره هم داسي پوهان دصدراسلام له دورې تراوسه پيداسوي دخپلوفکري هڅواودخپلو مغزونو په ستړياووترموږخپل څه سپارښتونه و((وماعلينا البلاغ)) په شېوه رارسولي دي دلوړو ليکوالو، ديني پوهانو او محديثينو لخوا دهغه پر شخصيت ډېر څه ليك سوي دي، بيان سويدي کېدايسي زما دلنډ فکرداليکنه ددې جوګه نسي چي دخپل ګران ،محترم ، مکرم ، مشفق پيغمبرحضرت محمد رسول الله ((ص))دحق دادايني په اړوند لکه څه ډول چي ښايي په هماغه ډول وړ وي خو دخپلي تلوسې هغه څه چي دخپل ذهن په هنداره کي يې لرم تر تاسو منعکس کړم ،لوي الله (ج) دي يې دشفاعت جرعه زمااوستاسي راپه برخه کړي ، پټه دي نه وي چي ددې کتاب دچاپ هدف دانحضرت محمد (ص) په اړ ونددهغه دشخصيت دځينو اوصافو پېژندنه ده البته که دهغه دشخصيت پر هراړخ وړغېږوکېداسي په سلګونو نه بلکي په زرګونوپاڼې يې په توصيف ډکي سي ددې کتاب دڅلوروبرخوتر بيان وروسته دهري برخي په پاي کي ديادي سوي موضوع عمومي اوخصوصي هدفونه بيا سوي چي دمسايلواړتياوي او شومه په ډاګه کوي همداشان دهغوي مقصدچي دلاري دمسيراو دهدف ته درسېدو مېتودونه او نقطې ټاکي اومطلبونه يې چي موږ ته دست آوېز په لاس را کوي ليکل سويدي او په که درشل کي کوم څه را څخه پاته سويوي اوياتېروتنه موجوده وي دمعافۍ هيله لرم

ددې تر څنګ ددرنواستادانوشیخ الحدیث مولوي محمدعمر((خطابي))مفسیر القرآن مولوي محمد نادر،مولوي عبدالحي((معروض)) اوشېر محمداخوندزاده څخه په قدرداني مننه کوم چې ددې کتاب په تصحیح اوعالمانه نظرونوسره یې دخپل مهربانۍ له رویه خپلې خولې راسره توۍکړیدي.

په درنښت

استاد نوراحمد (( قرانمل))

## ربښتنی استازی

دنړۍ پر مخ دانسان دپیدایښت وجود ، دژوند کولو حکمت اودهغه دلړ په اړونددقرانکریم همدا مبارك ایت یو کافي سند بللاي سو لکه الله (ج) چي فرمایي : قلنااهبطوا منهاجمیعاً فامایائتینکم مني هداي فلاخوف علیهم ولاهم یحزنون • دپېدایښت په اړوند یې له الله (ج) سره یو ستر هدف وو .

ددې سره جوخت دانسان دفکري محیط دتنګې دایرې لپاره په هغې کښي دژوند کولو استوګنه یو معجزه امېزه معما ده چي یوازي الله((جل جلاله )) یې په حل او دهغه دفصل په پوهیدنه سره دواك صلاحیت لري ، انسان کله هم نسي کولاي چي ددې معما دحل لپاره په بشپړډول دخپل فکر له ناتوان ځواك څخه څه ور ته هدیه کړي ځکه چي انسان یو واجب الفنا وجود او الله (ج) یو واجب البقا موجود دئ په دې اړه دلوي الله دسپېڅلو بندګانو پریشتو غبرګون چي د((الاما علمتنا )) په څرګندولوسره دلوي الله دفرمودې په ځواب کښي ور کول سوي دملائکو څرګند اعتراف دئ اودنورمخلوقاتو دپوره نه پوهېدني یو کره دلیل دئ

دملائکو ددې کره تسلیمۍ په اړوند دحضرت ادم (ع) له خولې او ژبي څخه ددې ایت ده مصداق : وعلم آدم الاسماء کلها

ژباړه : او وښوول حضرت ادم (ع) ټول هغه نومونه ټول دشیانو :

چي عبارت ټول دمادي اومعنوي جهان دشیانو اړوند نومونه دي چي په دې سره دالله (ج) له لوري د((واني جاعل في الارض خلیفه ))

ژباړه: اوزه ګرځوم په مځکه کې خلیفه)

په فرمان انسان دهمدې ارادې مظهر بللاي سو

انسان چي په پیلامه کښي دحضرت ادم (ع) او دهغه ددرنې ښځي حواانا(رض) دګډ ژوند ((نکاح))په پایله کښي را څرګند سو دلوي واکمن دعبودیت لپاره ور ته دژوند په ټولواړ خونو کښي ډول ـ ډول نعمتونه د(( وخلق لکم في الارض جمیعاً)) په ارشاد په واك کښي ور کول سول چي نورومخلوقاتو لا دانسان تر پیدایښت له مخي لکه څه ډول چي ښایي کار نووځیني اخیستۍ دپورته یادوني سره انسانان ددې جوګه سول چي دمادي او معنوي جهان هغه حکمتونه دخپل کاري ظرفیت دکاروني لپاره پر کا رواچوي چي نورمخلوقات یې په کړنواوکارونوکښې عاجزوه په دې اساس چي انسان دشیطاني توطیوښکارنسي اودخپل معبودپه وړاندي دتکبراوغرورجبهه ونه نیسي هغه ته ددې ټولو نعمتونو ده په واك کښي ور کولو سربېره یې (انسان)دلوي الله دیوه عاجز مخلوق غوندي په موجوداتو کښي راڅرګندکړودنازاوعجزترمنځ په دې نعمت کښي یې دوحدت الوجود ذات پرته په مخلوقاتو کښي جسماً او صورتاً ښایسته وګر ځاوه

الله((جل جلاله )) انسان ته دا سي یو څه په واك کښي ور کړل چي دفکري تجسس او هڅي په لړکښي یې داحکامو په پلي کولو سره هغه څه تر سره کړل چي هغه پخپله دهمدي انساني ذات په فکري فهرست کښي ورته ځاي نه درلود ، دلوي الله ددې معجزه امیزوحکمتونو پایلي دومره جوتي سوې چي له هسته دنېست او له نېست ((• chromosome څخه دهست ثبوت دبیولوژیکي کروموزوم دانسان )) په مبداء دمخلوقاتو په لړۍ کښي

موجودیت ومنل سو اودهندسي غوندي قضیو او دهغوي په در شل کښي دفرضیو او نتېجو پشان (بلاتشبه) ثابت سودمځکي پرمخ دولاړي په حالت کښي یې قائمه زاویه ، دولاړیېدو او کښېناستو په لړ کښي یې حادې او منفرجې

زاويې تثبيت کړلې ، دفيزيکي فورمولو دتثبيت لپاره يې محرك وګرځاوه او په کيمايې تثبيتونو سره يې په فضا کښې وزن ، حجم او کتله اختيار کړه او په فزيکي فورمولو سره يې دخپل جسم په حرکاتو محرك پيدا کړ په جغرافيوي اړخونو کښې دجوي او اقليمي هواوو په بدلولو سره دهري سيمي په چاپېرکښې دبېل رنګ او قامت لرونکي ښکاره کړ او دا سي نور نوښتونه ...

انسان چي دلوي الله له ممتازو مخلو قاتوڅخه دئ او الله ((جل جلاله )) ورته دکلام ، ادراك او تميز مافوقي قوې ور کړي بياهم اکثريت انسانانو لکه څنګه چي ښايي هغه څه يې دالله لپاره نه دي کړي په استثني دالله((جل جلاله )) دسترو دوستانو ((پيغمبرانو ، او لياؤ الله ، علماؤاو صالحو کسانو ) څخه

دا په دې مفهوم چي الله انسان ښايسته ترين د((في احسن تقويم )) په مصداق ګر ځولي دي دصالحو او پاکو بندګانو پرته ضعيف النفس انسانانو ته د ستردښمن شيطان دګواښ په پايله کښې چي دانسان په وړاندي يې لري انسان ددې په عوض چي دخپل تميز له سنجست څخه کار واخلي دهغه دلومو ښکار سويدي دشيطان دتوطيؤ په جال کښې درا ګير سوو انسانانو په اړ وند دشيطان دفرېب او دوښمنۍ لپاره همدا ايت مبارك يو ستر دليل دئ ((ان الشيطان للانسان عدومبين ))•

ژباړه :بېشکه شيطان دانسان ښکاره دښمن دئ

انسانانو دخپل فکري تميز په نه کارولو سره چي دعقيدې په ننګه يې تر سره کړي نه دي بلکي دهغه څخه عکساً يې هغه څه کړي دي چي همدا دېرکي انسانان يې له سمي لاري څخه دفسوقو ، انحرافاتو او خرافاتوپر لارور سم کړي اودحسناتواونېکيوله درشله يې را ايسار کړي چي همدې کسانو لره په رشتيا چي اور دجهنم حتمي دئ لکه الله (ج ) چي پخپل پاك کلام کښې فرمايي ((وان جهنم لموعدهم اجمعين ))•

ژباړه بېشکه چي دوږخ دهغوی ټولو لپاره ټاکل سوي ځای دئ

دېرو انسانانو چي تل يې دخپلو نفسي غوښتنو پر بنسټ هر وخت دخداي پرنورومخلوقاتو او خپلو هم جنسو باندي دخپلي فافشارۍ دريغ نه دئ کړئ ؛ په وړاندي يې بيا هم داشتباهاتودمخنيوي دظلم او تېري دمحوه کېدو لپاره دالله((جل جلاله )) نور دخپلي لاري سپېڅلي بنده ګان دهمدې بشرله منځه را پورته کړي او تل يې دخرافاتو دمخنيوي په وړاندي وخپلي مبارزې ته ګمارلي دي تر څو دلوي الله ولاري ته بې لاري انسانان راوبولي اوخپل دعبادت ځيني ارکان په همدې برخه کښې بشپړ کړي .

تر دېره هغه بنده ګان چي دلوي الله په وړاندي يې کوم دبغاوت سر را پورته کړيدي ،هغه کسان بلل کېږي چي دالله((جل جلاله )) دورکړل سوي استعداد اوتميز ددرلودلو او له هغه څخه دنه استفادې په غرض دشرارت لار نيولې ده چي دا انسانان الله (ج ) پخپل عظيم الشان کتاب قرآن کريم کښې د((ان الذين کفرو من اهل الکتاب والمشرکين في نار جهنم خالدين فيها اولئك هم شرالبرية )) بللي دي ، دصالحو بنده ګانو او نا صالحو بنده ګانو تر منځ ددوو مخالفو قطبونو تر منځ تل دټکر پروسه په وجود را غلې او په پايله کښې دجګړې او تبارز رنګ يې اخيستئ دي حال داچي پخپله جګړه په انساني کرامت کښې يونابود اويانا موجدڅه بلل کېږي اوريښنه يې دغېرناطقومخلوقاتوله ډلي چي په هغوي کښې دعقل اومنطق کوم څرك نه ترسترګو کېږي را منځته سوېده خو دا په دې معني نه ده چي صالحو بندګانو هم دځنګل واکمنو غوندي دجګړې لاره غوره کړېده بلکي دصالحو بنده ګانو تبارز له دې نه بېل ولي دحکمرانۍ او ځان تحميلوني لپاره دغېرو صالحو بندګانو تر منځ جګړې موږ دځنګله قانون ته ور ته پدېده ده متاسفانه دشيطان او نفس په تحريك دا پدېده د هابل او قابل دذهني ټکراودېږي له واره

نیولې دنني ساینس تر بیوشمي ، بیولژیکي ،او کیمیاوي (ذروي)) اسلحو پوري دانسان دله منځه وړني لپاره دمرګي دلومي جوړول دي ،دې مو ضوع نه یوازي دا چي دانسانیت داسپېڅلې لمن یې داغداره کړېده بلکي ،انساني کرامت یې له ستونزو سره مخ کړیدي

دانساني کرامت درا منځته کولو په موخه چي صالح بنده ګان یې پرمخ بیایي نا اهلو کسانو دمشکلاتو دراپورته کولو زمینه مساعده کړیده ددې نا اهلو په وړاندي هغوی اړ دي چي دخپل رسالت دپوراینې لپاره دمځکي پرمخ دبشري نجات ،انساني عدالت ،مصؤنیت او دپاك الله درضااوخوښۍ لپاره دیوه پاك نظام منځته راتګ او دهغه دپلي کولو په لاره کښي دخپل وخت ضایع کېدل دځان مسؤلیت اورسالت وبولي او په دې سره غواړي چي دحق اوباطل تر منځ یوروښانه خالګاه په وجود راوړي ،انساني ظرافت وځلوي ، اوپه انساني عالم کښي دحیوانیت وحشي موجونه دنابودۍ تر ساحله ورسوي دمځکي پر مخ دانساني ټکرونو ، فرقیي جګړو ، نه نېولې دفرعوني ، اسکندري ټکرونو او دنننۍ اروپااو اسیا تر منځ په مدیترانه یې سیمه او فارس ((اوسني ایران)) کښي د(( قیصر او کسري )) دغر از موېني ، جنګېزي تاړاکونه ،د چینایي سلطنت او انګلیسي لښکر کشۍ تر منځ ټکر او تاریاکو پر سر دهغوي جګړه ، چي د لمړي او دوهم نړیوال جنګ تر مخه دمتحدینو او متفیقینو تر منځ زور ازمویني او ټکرونه او نور دا سي ورته مثالونودتکرار مخه ونیسي ، چي تل یې دنفسي تفوق پسندۍ او پر جهان دحاکمیت کولو او پراختیا غوښتني پربنسټ تر سره کړیدي او دخپلو فافشاریو دپلي کولو لپاره دانساني بشر دکړولو لپاره دمځکي کره دسرې تبۍ پشان ګرځولې ده اوانسان یې دمړیني ، هجرت ،بېلتون اوزحمت له ګړاوونو سره مخ کړیدي

دسر خبروته په راګرځېدلو سره چي دلوي الله صالحو بنده ګانو دخپل لوي واکمن دفرامینو دپلي کولولپاره دالله د الهامي او بشارتي امر پر بنسټ په هغه څه لاس پوري کړیدي ، چي انساني جهان ته درفا لاره بخښي

یوه ډله ددغو صالحو بنده ګانو طبقه ده چي دانسانانو دلار ښووني لپاره ځانګړي او غوره سویدي

چي داډله دپیغمبرانو په نوم یا دېږي ،پیغبران په بهترۍ ، سلوکو ،زغم اوبلنه کښي دالله((جل جلاله))

ترنوروبشري استازو غوره بنده ګان دي کېداي سي دانبیاؤ (ع) په جسمونو ،رنګونو ، اوقیافو کښي داسي دشکل تغیر مو جود نوي بلکي دعادي انسانانوسره یې تفاوت په سیرت ، سعادت ، نبوغ ، افکارو ، بلوغ او ... کښي نغښتۍ وي

ددې برتروالي په موجو دیت سره دانبیاؤ (ع) په وجودونو کښي داسي اوصاف نغښتي وي چي هغه له نوروعامه وګړوسره نسته ،دپیغمبرانو په زړونو کښي حسداوکینه نسته ،ورځني سلوك یې تل پررسااوساده لوحه ژوند متمرکزوو چي په دې سبب سره دهغوي سینې او افکار په پوره فیصدي له میني ،او سپېڅلتیاڅخه ډك وه دمیني او محبت معنوي مفهوم اوکثرت چي دهغوي په زړونو کښي موجودوو ددې لامل سویؤ چي تل دهغوي دزړونوتر جهانونودباندي دهغوي اثرات اوحرکات یې څرګندکړل اوددې څر ګندتیا نښودنووروانسانانو دزړونوتر خلوتونواومحلونو ځانونه ورورسول اودهغوي دژبو دتبلیغ په تورم((دېرښت )) دهغوي دوجدانونووخانقاؤته یې روښانتیا ورکړله اوله حسد څخه ددغو پاکوبنده ګانودخبرواغېزې وې چي یوپه بل پسي الله دانسانانو دبشري سعادت لپاره دوي ته په الهامي اووحیي ډول دفرامینو نزول دهغوي دپلي کولولارښوداومسؤلیت سپارلئ دئ او دوي (انبیاءُ (ع) یې په دې ګمارلي چي دحق او باطل تر منځ دبېلتون کرښه را کش کړي بیا چي یې وروسته ددې جهانه دخداي پاماني کړې او امتونو یې دمکي لار په تر کستان بدله کړیده الله (ج) یې په عوض بل نوي صالح

بنده ديوه پيغمبر په توکه گمارلي دي چي ددې استازو تعدد يې دزماني شرائطو داړتياولپاره ترلسکونو زرو پوري اووښتي دخداي دا صالح بنده گان چي په مستقيم يا غير مستقيم ډول دالله (ج)له لوري وحيي ورته را غلي دي هغوي په پايله کښي نوي دين دنوي کتاب په نزول تر امت پوري رسولي درسولانو په نوم يادسويدي اوکوم پيغمبر چي دمخکي اسماني دين په تقليد خپله لاره تعقيب کړيده دنبيانو په نوم ياد سويدي چي ددې پيغمبرانو له ډلي هغه پيغمبران چي دکتاب رسالت يې له غاړي سوي دقراني ايت په مصداق ((اولوالعظم من الرسل ))• په نوم نومول سويدي

دهري شخړي دهواري لپاره دفرعون صفته واکمنانوپه وړاندي دموسي ، عيسي ، داؤد ، ابراهيم(عليهم السلام) پشان را پورته سويدي او دگمراهانوپر شيطان صفته واکمنيو يې دمسئوليت ډك وارونه کړيدي اودالله((جل جلاله ))دلوري ددا گمارل سوو انسانانو کښي راوروسته دفارس او روم دخطر ناکو پدېدو په وړاندي دهغوي دختني کېدولپاره ددوي له جملې يو هم درسالت او بشارت استازي حضرت محمد رسول الله ((صلي الله عليه وسلم ))

دئ چي د((ان اکرمکم عندالله اتقکم )) په ارشاد يې ټول الهي امو رات منلي دي او پلي کړيدي چي انسان ته يې دانساني کرامت دتحفظ لپاره دعبوديت او او ټولنيز ژوندانه لاره ټاکلې ده

دغه سپېڅلي انساني بشر (ص) چي دژوند ټول خواږه يې دالهي نظام دپلي کولو لپاره بل اړخ ته پرېښي دي او ددې نظام دپلي کولو لپاره يې لېڅي را نغښتي دي ددې جوگه سويدي چي دخپل جسمي ژوندانه په جريان کښي دنړۍ يو پر درې برخه داسلامي اعتقاد پيرووګرځوي هغه پرامت مسلمه دځان دتحميلولو په موخه نه بلکي هغوانسانانو ته دژغورني ټارگېټ(هدف) غوره کړ چي په عالم ناسوت کښي عاطفه ، مينه او ريښتنولي انسانوته سوغات کړي او دخپلو سيرونو په بدلولوسره له منځه انساني اساسات بيرته راژوند کړيدي په ښکاره ډول دحضرت محمدرسول الله((صلي الله عليه وسلم )) لمړۍ ټکر دخپل جاهل ملت سره هغه وخت واقع سوچي دئ په پيغمبرۍ نه وو مبعوث سوئ .

چي کله يې په دې سپېڅلې مبارزه لاس پوري کړ نو بيايې په وړاندي دعربي صحراترپولودباندي مخکنۍ يادي سوي امپراطوريو سره ددوهم ټکرمخامخ کېدنه وه

ددې دواړو ستونزو دله منځه وړلو لپاره دالهي نصرت ، ارشاداوفرامينو په رڼا کښي حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) هغه اساسي پلانونه طرحه او دعمل لپاره غوره کړل چي په انساني فکرکي دهغوي خاکه طرحه کول له عقل نه لوړه خبره وه

دالهي فرمان (قرانکريم) هغه معجزه بخښونکي نښه پر حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) دنزو ل داسي ځرگندونه سوې چي په هغه وخت کښي د تاريخ ، جغرافيې ، سياست ، او سالمي ايډيولوژۍ البشاکه لا دوخت دبشرپه افکاروکي نه ښکاريدله•

دکورني چاپيريال ، کلي او کوڅې څخه با وجود هغه دخپلي ځوانۍ او دحقانيت دتبارز په در شل کښي په لمړي ځل دکوردننه هم دا سي څوك نه درلودل چي دده پيغام دئ دحقانيت په غوږو واوري اما ،دهغه سليم عقل ،حليم خوی ،روانشناس هنر ، سياسي تيوري اوربښتونې پيغمبري الله(جل جلاله )ددې جوگه کړل چي دالله دنصرت په بدرگه د انسان دنېك مرغۍ زېرۍ را وړي

انسان ته دښه ژوند په موخه دباطل په وړاندي ربښتنولي ځرگندونه اودهغه تعميل او تعميم هغه اړتياوه چي الله((جل جلاله )) دشيطاني توطيو دله منځه وړني لپاره دحضرت محمد((صلي الله عليه وسلم )) پيدايښت

اوانتخاب یوغوره نعمت وباله
دصالحوبنده ګانو له جملې دغه انسان ((صلي الله علیه وسلم ))دارواحي پیوندترڅنګ په جسمي نړۍ کښې دانسانانو لپاره دعقیدې دا سي هدف وټاکه چې دژوندانه په لړکښې داخلاقو ،نظم ،دسپلین ،انساني سلوکو ، ټولنیز ژوند سیاسي تیوري اقتصادي بېس په غایو کښې دخپل عقیدتي هدف دانحناترمحراقه ځان وروړسوي او ددې کار په تر سره کولوسره دانساني نړۍ تر منځ دانساني پیوند ،متقابل احترام اوعزت پرنسیپونه داسي را منځته کړل چې په لمړي سرکښې یې دهغوي لپاره داساس اېښودني لپاره دالهي خفي اوجلي وحیوسرچینې وټاکلې او بیا یې دهغوي دتعمیل دعملي کولو ،رواجولو ،اوعالم انسان ته درسېدلو په دود خپل ځان دیوه عامل انسان په توګه وکاراوه •
ددې عملي کېدو یوه بېساري بیا هم لمړۍ خپلو ملګرو ته دسپېڅلي سېرت په هدیه سره خپلو امتیانو ته داسي څه پرېښودل چې داعتقادي باورددرلودلوترڅنګ دحضرت محمدرسول الله (صلي الله علیه وسلم )سنتونوته دعمل جامه ور ورا غوندي .
دحضرت محمدرسول الله((صلي الله علیه وسلم ))دیاد سوي سیرت مخکني توکي نه یوازي داچي دمحمدي ((صلي الله علیه وسلم )) امتي پیروانو لپاره دیوه سالم ژوند اساس بلل کېږي ، بلکي هغوي دا انتباه ور څخه اخلي چې دین که له یوې خوا څخه دخداي دفرامینو عملي کول دي دروحانیت جهان ته د ځان دور ښکېلولولاره ده تربل څنګه په ژوندانه کښې ددولتي چاروتنظیمولوپه مشروعولارو کښې ددین له اساساتو څخه شمېرل کېږي همدا لامل وو چې دصدر اسلام په دوره کښې ددولتي چاروفرامین هم له مسجد څخه رهبري کېدله په دې لاره کښې دلړلیداولرلیدټاکل دهغوي دعملي کولوپه پایله کښې جنتونوته دصالحوکسانو ددخول او دلوي الله له عذابه څخه دنجات او له دوږخ څخه دژغورلو لاري وښودلې ،نېك كارونه یې تائیداوله ناوړوکارونو څخه یې دتردید لاره غوره کړله او هغوي یې دمنکراتو په نوم تقبیح کړل دغیرمعتقیدوکسانو لپاره یې هم دا سي اساسي •او سیاسي سمپلونه پرېښوول چې دعقیدې او ایمان دچوکاټ دباندي لادینه خلګ مجبوراً د حضرت محمد رسول الله (صلي الله علیه وسلم ) دسیاسي ابتکارونو دتقلید لاره غوره کړي ، دسیاسي ژوندانه ، نظامي مانور ، پوځ پالني ، بانکي خزانې اساسات دېر هغه څه وه چې نن دنړۍ ټول دولتونه داکه مسلمانان اوکه غیرمسلمانان دي له هغوي څخه ګټه پورته کوي دا پخپله دحضرت محمد(ص) دځراکت او دولت دارۍ یو ثبوت دئ چې هم دهغه پیرواوغیرو پیرو کسان دنوموړي له دې ډول ابتکارونوکاراخلي اوله خپله ځانه داسي نوې طرحه نسي وړاندي کولاي څودهغه په درشل کښې خپل کاري ځوا ك پر مخ بوزي او که یې را وړاندي کوي نوخاماخا به یې اساس بیا هم دګران پیغمبر له وضع سوو اساساتو څخه متاثر سوي که دهغه له اساساتو څخه په مغاریت کوم نړیوال قدرت یوه طرحه وړاندي کوي پخپل له څخه مودې وروسته له سیاسي بحران او یا به هم داقتصادي بحران په را منځته کېدو سره له ګډوډۍ سره مخ کېږي موږ وینو چې دصدر اسلام تر دورې را وروسته دېري داسي امپراطورۍ را منځته سوي چې په لوژیستکي ډول دېري مجهزي وې اقتصادي منابع یې هم غښتلي وه ولي بیا هم له تزلزل سره مخ سوي ولي اسلامي نړۍ سره تردې چې پرڅو ملتونو ووېشله سوله بیا هم په ایډیولوژیکي ډول اوس تړلي ښکاري
ولي بیاهم هغه امپراطوري جوړوونکي چې په عقیدتي ډول حضرت محمد(ص) له تګلاري سره موافق نه وه هغوۍ دې ته اړ ول چې ددې لاري پیروي وکړي او ددې ټولو سیاسي پلاس را وړنو لپاره بیاهم دحضرت محمدرسول الله ((صلي الله علیه وسلم )) وهغوتوکو ته دمجبوریت په توګه لاس ور واچوي کوم چې حضرت محمد رسول

الله((صلي الله عليه وسلم )) څوارلس سوه اته وېشت قمري کاله پخوايې تاداب او بنسټ ايښی وو
په دې اړ وند که په امثالو اتکاء وکو کېداي سي چي ددې رسالې پاته ليکي بس په همغو امثالو ډکي سي کوم چي دالهي ارشاداتو دپلي کولو په موخه الله حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) ددستور په توګه وحيه کړيدي لکه په دې اړ وند چي الله((جل جلاله )) پخپل پاك فرمان کښي فرمايي (( ومااينطق عن الهواان هو الا وحي يو حي ))•

ژباړه : محمد (ص) ددين په مورېد له ځانه څخه نه رږغېږي څه چي وايي ټول بس الهي وحيي ورته کېږي
که د حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) تر دمخه په نژې ماضي کښي موږ دهغه وخت دقيصر او کسري دواکمنيو پر مهال دانساني ستونزو په اړ وند سرچ يا پلټنه وکړو نو دبحراني تزلزل په موخه چي کوم چا په ټولنه کښي دګډ ژوند ســـاری نه دئ ليدلـــئ هغوي اړسوي چي دځان درفا په موخه وکليساؤ او اتش کدو ته مخه کړي او ددې کار په تر سره کولو سره يې له ټولنېزو ژوند څخه درهبانيت لاره نيولې او له ټولنيزو ارزښتونو څخه خپله محروم سوئ دئ په دې پړاوونو کښي به انسانان په دې تلقين کېدل يعني وخوره ، وچيښه او دژوند تر پايه په بل څه کار مه لره او مړ سه بل څه نه څرګنديده ځکه چي په هغووختونو کښي دمذ هب مقيدچوکاټ يومستقيل دولتي تشکيل اودرسمي دولت اړخونه بيابل دولتي تشکيل ګرځېدلی وو چي په يوه ملت کښي دوه حکومته را منځته سوي وه يو يې دراهبانو او بل يې دامپراطورو واکمنانو وو همدا دليل وو چي حضور اسلام کښي رواه سياست او مذهبي اوخونو دواړو ته دچلولو اساسات ور کړل تر څو په ټولنه کښي اجتماعي عدالت تامين او ورسره تر څنګ دژوند په ټولو اررښتونو انسان پوه سي
د حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) داعتقادي هدف ټاکنه او دتحقق موندني داصل لپاره دهغه غايه ، دهغې په در شل کښي دپيغمبرۍ پر مهال دقرانکريم نزول دقرانکريم د معنوي اموراتو اوارشاداتوڅخه دلار موندني ،دهغه تاريخي واقعاتوڅخه دعبرت اخيستني په دود په غوړ نيوني سره دانساني سېرت دتکامل لپاره يوبې ساریٔ مثال وګرځېددهغوي دعملي کېدواو نتېجه را ايستوکړنه دوخت او زمان ټولو کسانو ته دا پيغام ورکړ چي دانسانيت په لاره کښي نېکمرغي او دوحشت په لاره کښي بدمر غي پرته ده ددې اخلاقي تکامل پر بنسټ يې وفرما يل چي (( بعثت ليتمم مکارم الاخلاق )) ، پر دې بنسټ چي دخپلو سېرتونو په در شل کښي جمود او کنګل توب رانه ولي خپل ملګري يې هم همدغسي وروزل او هغوي يې هم دسېرت په ګانه سمبال کړل ،کله چي يې په هغوي کښي دخپل سيرت دعملي کولو اثار او نښي په څرګند ډول حس کړې نو پاته امت ته يې داطمنان په دودهمداحديث نبوي((صلي الله عليه وسلم )) پرېښود چي فرمايي:
اصحابي کل لنجوم بايهم اقتديتم اهتديتم ))
رواه رزين ماخذ:مشکوة
ژباړه :زما صحابه دستورو پشان دي په دوي هر يوه پسي چي اقتدا کوي هدايت به مومي
دنورانيت دجهان او بشريت دتقليد په موخه موږ له پورته حديث څخه دا انګېرلاي سو چي هغوي (اصحابان) يوازي ستاسو لپاره زما حضرت محمد((صلي الله عليه وسلم) په تقليد دهدايت ستـــوری دئ او تاسو له هغوي څخه ديوې مر جع په توګه ګټه پورته کولاي سي او که اصحابان په حياتي ډول فوت سويوي بيا ښه دتابعينو له هغوي څخه تا سي دخپل مخکښ په توګه او دا غسي زينه پر زينه را کښته ورته کړنه تر سره کولاي سي چي په دې سره خپل اسلامي دين ديوې دوامداره پروسې په توګه راڅرګندېږي اوترمنځ هيڅ سکتګي ،بسنه او توقف نه مني

حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) ديوه پيغمبر په توګه دطاغوتي ډلواوشيطاني توطيودشنډولواو راپرځولولپاره ټاکلي دي سره تر دې چې دالله((جل جلاله )) له لوري دنوروانبياؤ تر څنګ حضرت محمد رسول الله ((صلي الله عليه وسلم )) دهغوي غوندي يوه شانته د نده در لوده اما پر دې بنسټ چې الله((جل جلاله )) دنيا او ما فيها دده له رويه ښکاره کړيدي د حضرت محمد رسول الله ((صلي الله عليه وسلم )) اکرام او سپېڅلتيا دنورو پيغمبرانو په پر تله زياته ده چې ده ته په الهي در بار کښي دنورو بندګانو په پرتله تفوق ور کړيدي او هغه ته يې د(( وما ارسلنك ........)) په خطاب رحمت اللعالمين ويلي دي پر حضرت محمد رسول الله ((صلي الله عليه وسلم )) دقرانکريم معجزه امېزه نزول چې په شان نزول کښي يې راز او نياز يوازي له الله سره خوندي او په بشپړ حکمت يې خداي((جل جلاله )) پوهېږي ددې څرګندوی دئ چې نزول يې پر حضرت محمد رسول الله( ص ) تفوق پر نورو پيغبرانو ثابتوي د(( ومماارسلنك )) خطاب حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) ته په دې معني نوو چې الله دنورو بندګانو په پرتله حضرت محمد رسول الله ((صلي الله عليه وسلم )) ته ډېر قدر ور کوي او دده او نورو پيغمبرانو تر منځ فضيلت ثابتوي ځکه چې الله دا سي ذات نه دئ چې دچا ولې يا ډېر څه ته دي اړتيا ولري بلکي (ومارسلنك ....) دالله((جل جلاله )) پېرزو ينه ده چې هغه ته يې ور په برخه کړيده

پرحضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) دالهي کتاب او اسماني دين را تګ او نزول ددې لامل سول چي نور بشريت په پوره ډول دخپلو افکارو دتنوير لپاره دهمدې اسماني او الهي ارشاداتو څخه څومره چي دوي ضرورت ور لري ګټه ور ځيني پورته کړي چي دقرانکريم څخه ديوه جامع کلام او له اسلامي دين څخه ديوه کامل قانون په توګه کار واخلي الله دانسانانو دسوالونو دپوره کولو لپاره دقرآنکريم په نصوصو کښي دلوح محفوظ دساتلي ليکني يادونه داسي بيانوي (( لارطب ولايابس الا في کتاب مبين ))

ژباړه : نه لوند سته او نه هم وچ سته مګر په کښي ښکاره دي

دا معني چي مطابق له هماغه ليکنو سرهچي په لوح محفوظ کښي ليکل سويدي هرڅه مطابق واقع کېږي دکائناتو او مخلوقاتو دمعلوماتو په اړوند دانسان دهېښ پاته کېدواو دهغه دحل موندني پر بنسټ الله((جل جلاله ))په همدې کتاب کښي فرمايلي : (( ويوم نبعث في کل امة شهيداً عليهم من انفسهم وجئنابك شهيدا علي هؤلاو نزلنا عليك الکتاب تبياناً لکل شئٍ وهديً ورحمة وبشري للمسلمين )) سورت النحل ٨٩ ايت

ژباړه : او ((يادکړه اې محمده ! دوي ته )) هغه ورځ چي را پورته به کړو موږ په امت کښي يو شاهد (نبي) په (ويلواو کولو )ددوي باندي له نفسونو(قومونو او قبيلو) ددوي او را به ولو موږ تا (هم اې محمده ! ) شاهد پر دغو کسانو او نازل کړي مو دي موږ پر تا (اې محمده! متدرجاً)کتاب (چي قران دي) بيان واضح دهر(ديني) شي لپاره ،هدايت (حق ته ) ،رحمت او زېرئ ومسلمانان ته

ددې کلام دنزول او دهغه دتر ويج په اړ وند لازمه ده چي بايد الله دا سي يو څوك غوره کړي چي په ارواح او جسم کښي ددې مسئوليت دپورته کولو توان ولري

موږ ته الله((جل جلاله )) دخپل وروستني دين را لېږنه او دهغه دعملي کولو انتباه په دې اساس نه را کوي چي((العياذ بالله))الله ((ج))ددې توان نورنه لري چي بل کتاب او بل دين رانازل کړي اوياهم بل پيغمبرنسي ټاکلاي بلکي دحضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) درسالت انتخاب اودوروستي دين په توګه دمحمدي دين تمښت داخرت دثبوت په معني دي اوموږ په دې پوه کوي چي هرواجب الفناه ذات لره دنېستئ او زوال وخت او مهال سته او دهري سلسلې دفلسفې لپاره دپاي ټکئ سته بېله وحدت الوجود ذات (الله ) څخه ، په

دې معني چي هر شي دالله له ذاته پرته له صفره پيلېږي هغه ته دتكامل پړاوسته او دالله((جل جلاله )) دقران كريم ددې مبارك ايت په مصداق ((وماكان محمد اء بااحد من رجالكم ولكن رسول الله وخاتم النبين وكان الله بكل شيء عليما•))
ژباړه : نه دئ محمد پلار په تاسي كښي ديوه چا بلكي استازئ دخداي او ختم كوونكي دنبيانو دئ او الله (ج) په هر شي پوه دئ
دقران كريم ددې مبارك ايت په مصداق پخپله دحضرت رسول الله (ص) دا حديث يوكره ثبوت دهغه دوروستي والي ښوو((انا قائد المرسلين ولافخرو اناخاتم النبين ولافخرو اناشافع ومشفع ولافخر ))• رواه دارمي
ژباړه : زه دپيغمبرانو قائد يم او فخر نسته ، زه ختم كوونكي دپيغمبرانو يم او فخر نسته ، زه شفاعت كوونكي او زما شفاعت قبول كړل سويدي او فخر نسته
د(( ان الله علي كل شئ محيط ))•
ژباړه : بېشكه چي الله دعلم او قدرت په لحاظ دهر شي احاطه كوونكـــي دئ
په ځرګندونو سره دالله دوجود څخه پرته ددې قيوداتو څخه ددې تعيناتو ټا كنه دا ثبوت ښوي چي نورانساني تفكراودهغه تذهين هم دمؤقت وخت لپاره جوړاو عيارسويدي ،انساني اوحيواني ذات دخپلو معنوي او مادي ستونزو درفع كولوپه اړوند دقرانكريم دجامعيت او د حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) دسنتي پيروي څخه ګټه پورته كړي دا چي داسلام دعقيدې دنه منلو او دنه تائيد په وړاندي ډېرو انسانو خپل ټارګېټ ((دتګ مسير))بدل كړي او دادين يې دوروستي دين په توګه نه مني ، پر اخرت ايمان نه لري ، دځان لپاره يې دمصؤنيت لاره نه ده غوره كړي او نه يې هم دانساني جهان لپاره معنوي خير ښېګڼي دسرته رسولو مسئوليت غوره كړي ددې انسانانو لپاره هغه ورځ را تلونكې ده چي دوي به دخپل نه مسئوليت ددرك كولو په پايله كښي دهمدې قراني ايت ((ربما يود الذين كفروا لوكانوامسلمين ))•
ژباړه : ډېر ځلي به كافران داتمي او هيلي كوي چي كاشكي دوي مسلمانان واي
پښېماني وكړي خو دا پښېماني به هيڅ ګټه نه ور رسوي دوي ((كافرانو )) به د((ويقولوالكافر يا ليتني كنت تراباً •))
ژباړه : او وبه وايي كافر كاشكي چي واي زه خاوري
د كلمې په مصداق اعتراف كو ي چي البته دا به هغه مهال وي چي ددوي به وهيڅ شي ته لاس نه رسېږي او له خپلي اشتباه به سر ټكوي
ديوه وروستني پيغمبر په توګه دحضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) بر يالی پروسه او كارنامه هغه ژوندي ثبوتونه دي چي دخپل جسمي پيغمبرانه ژوندانه په (۲۳) كلنی كښي دتبليغاتي كمپاين ، عملي كوښښ ،نېك سيرت ، سياسي سلوك ، ټولنيز ژوند او تر دې مافوق دالهي ارشاداتو دتر ويج په پايله كښي انسان ته ديوه رښتوني اواجتماعي كړنلاري اساس كېښېښود
دحضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) دمعنوي جهان دمفاهيموپلي كول دحضرت انس ((رض)) په روايت د((يسرواولاتعسرواوبشرواولاتنفرو)) رواه البخاري
ژباړه :اساني وكړئ سختي مه كوي يو له بله زېرئ وركړی او نفرت مه كوي
په شېوه ددې ځرګندوي دي چي دهغه پيغمبر((صلي الله عليه وسلم )) په پيغمبرانه ژبه كښي دحقيقت ، له

پیغامه او دهغه پیغام دپلي کولو سر ببره بل داسي پیغام پروت دئ چي ناسوتي عالم ته دخداي دمعرفت ، انساني کرامت ، دښې ګنې تر څنګ دميني ،محبت او اسانۍ اساسات نغښتي او بيان کړي •
حضرت محمد((صلي الله عليه وسلم )) ديوه بې ساري انسان په توګه تل پخپل نفس حاکميت در لود ، هغه په ځان باوري وواو اطمنان يې درلود چي دالله په حکمت دخداي((جل جلاله )) دفضل ، رحمت او غفران په جامه پسولل سويدي او دالله دقدرت پرته بل داسي ځواك نسته چي له هغه دي دا ناز واخلي او په اراده کښي دي يې بدلون را ولي
د((لانبي بعدي ))دکلمې څخه په استنباط دوروستي پيغمبر په توګه که له يوې خواڅخه عامه انسانان دحقانيت پرلورراماتول له بل پلوه يې دهغوي څخه دخلفاي را شدينو غوندي کسان استحصالول تر څو ددينې ارشاداتو دتبليغ اوترويج دتعميل تر څنګ پر ورځنيو چارو دحکومت کولو مېتودونه او ددې لاري سياست او دين په بشري ژوندانه کښي سره تړلي را وړاندي کړي
حضرت محمد رسول الله ((صلي الله عليه وسلم )) دا سي کار نامې ترشاپرېښي دي چي دهغوی څخه دهري يوې بيانول ددې ګواهي ور کوي چي هغه يو رښتونی پيغمبردي
مطلب
دپورته لوستني څخه به ډير داسي څه تر لاسه کړو چي درانه او صفا ژوندانه په يو ځاي نه يو ځاي کښي به مو په درد وخوري را به سو ددې بيان کوټلي مطلب ته هغه دا چي په خلصه توګه بايد دا خبره څر ګنده سي چي الله (ج ) پخپله همدارسول الله (ص ) ددواړو جهانوسرداروګرځاوه او دخپل پاك حکمت او پاخه تدبير په در شل کښي يې دبېساري توان لرۍ همدته ورهديه کړله رسول الله (ص ) هم ديوه مطيع بنده په توګه دالله ټول اوامر پر ځان ومنل او دمنني ترڅنګ يې انسانان په دې عملاً او نظراً وپوهول چي انسان يعني څه ؟ ژوند يعني څه ؟ بندګي يعني څه ؟
چاچي دپاك پيغمبر (ص ) له مسبره ګام اړولي کېداي سي جهاني مؤقت تعظيم به يې برخه سويوي خو په اخرت يې الله (ج ) خبر دئ چي څه ډول مجازات به ووينې ؟ يقيني ده چي الله (ج ) به هغه سخت ترين دعذابونو ور کوي
تردې وړاندي کوموانسانانو چي دالهي دينونوله اړخونو لاري اړولي دي دهغوي دلاربښوونو لپاره يې ډېرنور پيغمبران هم را لېږلي ول دحضرت محمد (ص ) وروستی والي په دې معني دي چي ببله وحدت الوجود څخه هر شي لره دسعوداونزول مرحله سته چي په دې لړ کښي دنبوت ورو ستی مر حله هم پر حضرت محمد ((ص)) ختمه ده

## حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم))ديوه مبلغ په توګه:

دژوندپه بېلابېلواړخونوکښې دانسانانو هڅي او دهغوي په تعقيب يې سېر دهمدې لپاره وي چي دخپل دمر بوطه اړرېښت دپوراينې لپاره دخپلو هڅو ار زونه ، زياورنه او زياتونه تر سره کړي په دې اړخ کښې دژوندانه دڅارو په مادي او معنوي اړتياؤ کښې ډېرمتفرق شقونه مو جوددي چي دهغوي لپاره بيل بيل کسبګراوهنرپالان په پخپلوپيشوبوخت کېږي چي داوسني جهان دنړيوالو خپريزومعيارونودپلي کولواودهغوي په مفهوم دکمونيکېشن CAMUNICATION عامه پوهاوي په پلي کولو سره داولس پوهېدني لپاره دژور ناليزم موډرنه کليمه موترغوړو کېږي چي ددې هنراساسي هدف هم دخلګوپوهېدنه ده ديوه ښوونکي ، ملا ،واعظ , نطاق او خبري مسئول په خبرومور. هغه وخت پو هېدلاي سو چي په خبروکښې جامعيت ، روان والی ، ساده لفظي ولري او دهدف متمرکز ټکي بيان کړي ددې خبري په اړ وند دفارسي حکيم عمر ((خيام)) دانيمه بيتي چي وايي (( اګر در خانه کس است ، يك حرف بس است )) ديوې بېلګي په توګه را وړاندي کېږي چي انسان بايد په نيمه پوه سي خو ددې خبري نيمګړ تيا به په دې کښې نغښتيوې چي ټول انسانان ،نقطه چين نسي کېداي چي په نيمه خبره دي پوه سي اوخپل مطلوب هدف په مرموزانه توګه تر لاسه کړي ، ځکه نوعامو وګړو ته بايد دهغوي په ژبه خبري وسي تر څو ژورناليستيکي نورمونه يې پرځاي سويوي ددې ټولو پوهېدونواو نوښتونو لپاره د حضرت محمدرسول الله((صلي الله عليه وسلم ))داحاديثو لوست او په سليسه توګه په هغوي پوهېدنه دابنستيز اساس تشکيلوي او هرڅاته دا پيغام ورکوي چي خبري کوونکي بايددرساء ، سپېڅلو ، او له باريکيو څخه دخلاصو خبرو څښتن وي • تر څو مخاطبين (اورېدونکي ) يې دپيغام په مفهوم پوه او دخپلو مغزونو په خانقاؤ کښې يې هغوي ته دتمښت ځاي ور کړيوي ددې روانوالي په اړوند دحمدالله صاحب همدا مقوله يوه کره خبره ده چي وايي ((خيرالکلام ماقل دل ولم يمل ))

دحضرت محمدرسول الله((صلي الله عليه وسلم )) دخبرواغېزه دهغه څه څرګندويه ده کوم• چي په خوله يې ويل هغه يې ټول په عمل کښې څر ګند کړي وه دنظريې پوهي او دهغې دخبري خپروني په شفاهي وينا په حضرت محمد رسول الله ((صلي الله عليه وسلم ))درساتبليغ پر بنسټ وحقي لاري ته دانسانانورا بلل نه يوازي دځان سنت باله بلکي دالله دفرمودې پر بنسټ چي: -

ادعو الي سبيل ربك بالحکمة والموعظة الحسنة •

ژباړه : بلنه کوه ((اې محمده! خلقو ته )) ولاري درب خپل ته په حکمت او پند سره

د ځان فرض ګڼل چي دالهي وروستني دين پر لور دنېکمرغو انسانانو بهيررامات کړي دحضرت محمد رسول الله ((صلي الله عليه وسلم )) تبليغ او دحق ولاري ته دانسانانورا ماتول د((ورايت الناس يد خلون في دين الله افواجا)) •

ژباړه :اوخلګ ووينې چي دالله (ج) په دين کښې به په ډلو ډلو راداخلېږي

مصداق وګرځېداودهغه دپاك کلام دترويج په پايله کښې په لمړي ځل دټول حجاز ټول مشرکين داسي قانع سول چي په درويشتو کلونوکي يې دمکې ،يثرب ،طايف اودهغوي په لنډ چاپېر کښې دمشرکيت بديل داسلام اساسي ارکان اودپاکي عقيدې پلي کول نتېجه سوه اوبيادنومورې په تقليددهغه تبليغاتي پروسې ددې جوګه سوې چي نوراصحابان ،تابعين اوتبع تابعين يې دسنت لاره تعقيب او په انساني نړۍ کښې يوانقلاب را ولي حضرت محمد

رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) ددعوت او دهغه دپلي کېدو په لاره کښې هغه زحمتونه وګالل چي ساریځ يې دنورو نړيوالو انسانانودتبليغ په لړکښې نېست ښکاري ،هغه دخپلي بلني په اړ وند دطائف په ښار کښې په پڼيو او پښو باندي بهاندي ويني وزغملي اما دهغوی له بلني څخه يې لاس وانه خيست دحضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) دبلني او پاکو خبروريښتينولي او صدق وو چي تر ننه پوري موږ دهغه ثمره خورو په دې اړوند محمد ابن سير روايت کوي :
ان هذالعلم دين فانظر عمن تاخذون دينکم
په رشتيا چي همدا دين داسلام دي وګورئ تاسو خپل دين له دې نه واخلي
دا په رشتيا هغه روان نبوي کلام چي موږهر يو دا فهم ځيني تر لاسه کړيوي چي دخپل ځان لپاره ددين لاره غوره کړو او دالله په وړاندي دخپلي بندګۍ ښکارندويي وکړومو ړ ته دهغه له پاته شونواوسېرتونو ښکاري چي دهغه ((صلي الله عليه وسلم )) فکري تمرکز پر يوه محدود ذهنيت نوو چي دمحدودوکسانو لپاره دي يې کار کړي وي په دې اړ وند لاندي سوالونو ته را ځو چي :
ولي حضرت محمدرسول الله((صلي الله عليه وسلم ))دقبيلويت پراساس داسلامي دين پروسه پرکار وانه چوله ؟ جواب يې واضح دي هغه په دې معني چي که دقبيلويت پراساس يې دتبليغ پروسه پرمخ بېولې واي نويوازي به دقريشو په ټېرکښې دبني هاشم کورنۍ له دې نېکمرغۍ څخه برخمنه سوې واي اسلام به يې منلي واي چي دلته به يوازي دحضرت محمدرسول الله((صلي الله عليه وسلم )) دتبليغ پروسه په بني هاشموکښې محدوه سوې واي اوحضرت محمدرسول الله((صلي الله عليه وسلم )) به يوازي ديوه کورني مسؤليت دنفوذ په ساحه کښې راايسارسويواي ، يوازي به دبني هاشمو پيغمبرواي اويوازي دوي به يې له فيو ضاتوبرخمن سوي واي چي نن به داسلام ببلګه اصلاًنه ښکارېدلاي او کواي هم صرف په مکه کښې به دبني هاشمو قبيله واي
ولي حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) دقوميت پر بنسټ خپل تبليغ نه کاوه ؟ جواب : پر دې اساس چي الله((جل جلاله )) حضرت محمد رسول الله ((صلي الله عليه وسلم )) يوازي دقريشو دنېکمرغۍ لپاره نوو را لېږل سوي بلکي دعالم بشريت لپاره په رسالت ګمارل سويۀ که داسي سويواي نوداواضح وه چي پخپله دمکي دقريشو په قوم کښې موقتاًدادين خپورسويوي او پايله به يې بيا هم دبني اميه او بني هاشموترمنځ په مکه کښې داوس او خزرج دوختونوپشان دټکرونولړۍ پيل سوېواي چي داهم دتبليغ په اړخ کښې سقوط راووست
ولي حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) دملتپالني پراساس داکار نه کاوه ؟ •هغه په دې معني چي يوازي به نو دعربو لپاره ديوه ناجي په توګه راڅر ګندواي اودعجمونړۍ به ځيني پاته واي چي دلته به بياهم دحضرت محمدرسول (صلي الله عليه وسلم )په نبوت کښې (العياذبالله) شك پيدا سويواي لهذا حضرت محمد رسول الله ((صلي الله عليه وسلم )) دخپل تبليغ پروسه پر دې پورته خبرو متمرکزه نه کړله بلکي هغه دټول انساني جهان لپاره دتبليغ يوه استازي اودحقانيت دناجي د نه ده پر غاړه واخيسته ،حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) دعقيدې په کروکي ـ کښې را نغاړلي ټول انسانيت ته ديووالي او وحدت الوجود ذات دپرستش پيغام ورکړ ټولوانسانانو ته يې بس همدا توصيه وکړله او هغوي يې يوه کړل چي په مادي چوکاټ کښې بايديوازي دحق او باطل ترمنځ مبارزه ونه سي بلکي انسانان بايد دمعنوي جهان په درك کولو سره خپل دتبارز تبليغاتي اړخ ونيسي ترڅوخلګوته دا جوته سي چي دانسانانو لپاره يوازي ماديات مطرح نه دي هغوي بايد دمادياتوترڅنګ په دې پوه سي دانسان لپاره دا سي يوه پديده هم موجوده چي هغه يې او س پخپل دې

خواراوناتوان فکردرك او تشخيص نسي کولاي خو دزماني تغيراتو په لړ کښي هرو مروورسره مخ کېږي ددې خبري لپاره موږ ښه مثال ديوه انسان لپاره تخميني دېرش کلن عمر فرض وو او بيا فکر کوو چي که انسان ددېرشو کلونووي نو پنځه دېرش کاله تر مخه به همغه انسان چيري ؤ ؟ دهغه دنطفې اساس ( کرومزوم ) چيري متشکل وو او بيا په څه ډول هغه دپلاروملاته را انتقال او يا دهغه په ملا کښي له نېست څخه توليد سوي کومه قووه دچا په )) په وجوديې را وړ او دمور په رحم کښي دسپرم ديوه څاڅکي chromosomeامر موجوده وه چي دا کروموزوم (( اوبو دمايع اوبوله شپږ څلوېښتو څخه يو کروموزوم ددې جوګه کېږي چي ديوه انسان دوجود نطفه له اوبو څخه په ګاټه وينوله هغو څخه دغوښو ، بياپه هډو کو ،غوښو ، پلواو سم انساني شکل واووښت او ديوه موجود په ډول متمرکز او بيا په څه ډول انسان سواو وزوکېد لکه الله (ج) چي فرمايي :

ثم خلقنا النطفة علقة فخلقناالعلقة مضغة فخلقناالمضغة عظٰماً فكسوناالعظٰم لحماً ق ثم انشانٰه خلقاً اخر فتبارك الله احسن الخٰلقين •

ژباړه : بيا وګرځوله موږ دانطفه ټوټه دوينو (کلکه سرينښناکه) بيا وګر ځوله موږ دغه ټوټه دوينو يوه وړه بوټۍ دغوښو بيا وګرځوله موږ دا بوټۍ دغوښو هډوکي بيا ور واغوستله موږ دې هډو کو ته (پس له پيدا کولو درګونو اودپلو او نورو) غوښه بيا مو ژوندی پيدا کړ ي دي په پيدا ښت سره ((بل په نوي صورت ) پس ډېر لوړ لوي دي شان دالله ( په قدرت او حکمت خپل کي ) چي ډېر ښه پيدا کوونکی (صورت تړونکی ) دي( له نورو ټولو پيدا کوونکو صورت تړونکو څخه )

او بيا چي همدې انسان ته موږ دعمر يا ژوند کولو وروستۍ نېټه اويا کلنۍ وټاکونو بيا به پخپله هېښ کېږو چي داويا کلنۍ دمړيني ترواقع کيدووروسته په قبرکښې پنځوس ياسل کاله وروسته انسان څه کېږي ار واح يې چېري ځي ؟ دهډوکو پرته دبدن دغو ښو (ايزو مېرۍ )بخار سوي ژونکي (حجري) يې چيري ځي او څه کېږي ؟ دې ټکي ته که موږ متوجه سو خپله به دا ښکاره سي الله ( دخپل حکمتي جهان دنښو په لړ کښي انسان په معنوي جهان کښي له هسته ونېست او له نېسته وهسته را پورته کوي دانسان لپاره دمعنوي او مادي اصليت دپېژندني په موخه حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) دعالم انسان ترمنځ داسي پيوندرامنځته کاوه چي هغوي خپل ځانونه وپېژني دتبليغاتي پروسې دپياوړي کېدواو دانساني فکر په يوه سالم چوکاټ کښي را وستل خپل دنده بلله پيغمبر((صلي الله عليه وسلم )) به دجاهلواو ناپوهوانسانانوترمنځ حساب يوازي دحقيقت او حقانيت اودهغوي په وړاندي دمردودي لاري دبيلوالي لپاره خپل پيغامونه خپرول حضرت محمد رسول الله ((صلي الله عليه وسلم )) انسانانو ته دبېلتون تو پير يوازي دهوښياري ، ځراکت او دهغه په وړاندي د ډر پلۍ او کوڅه ډبۍ پر بنسټ کاوه هغه کسانو چي دالهي ارشاداتو لاره به يې نيوله ، دده(نبي ص) پر سنتو به تلل هغه يې دتسليمۍ دلاري سپاهيان بلل او هغه څوك چي به ځيني منحرف ول هغه ددې کسانو څخه بېلول په دې اړ وند ددې خبري لپاره د ((واذاخاطبهم الجاهلون قالوسلاماً)) يوه ښه نسخه بللاي سونتيجه اخلوچي حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) دنرمواومنځلاروخبرود ويناوو په انداز کښي • ، ددې تر څنګ هغوي ټولو ته لمړئ پرخپل ځان دعملي کولو کړنه نورو ته دهغوی ور ښوونګ او بيا دهغوي تعقب ددې لامل ول چي دحضرت محمدرسول الله((صلي الله عليه وسلم )) خبري دي سل په سلو کښي ګټوري او مثبته نتېجه ور کړي او دنړۍ خلګ يې دتبليغ او دعوت له لاري داسلام په سپېڅلي معنوي او مدني دين مشرف سي تر دې وړاندي دحضرت محمدرسول الله((صلي الله عليه وسلم )) پيغمبرانه معجزه دلته هم ثابتيږي چي په زماني لحاظ دهغه وخت اواوس وخت تر

منځ دژوندانه په هروا ړخونوکښې دا که سیاسي وه ، که اجتماعي وه او که نورډېرتوپیرموجود وو په نني ډول موډرن ساینسي او ټکنولژیکي خبریز توکي ، دمطبوعاتو په سیستم کښې دموډرن ژورنالېزم او دهغه درشتو نه موجودیت ډېري ستونزي لرلې ، ژبني میتودلوژیك سیستمونه او اصطلاحات نول موجودلاکن بیا هغه کلام چي دلوي ښښتن له لوري ) دتبلیغ او دهغه دپوهیدني لپاره تعین سویؤ هغه ژبه وه چي تراوسه یې بیا دډېرونوښتونوترڅنګ په ځان کښې نوي نوښت په نوي بڼه ومانه ددې ژبې پوخوالي او بشپړ توب اوپه همدې ژبه دحضرت محمدرسول الله((صلي الله علیه وسلم )) دیني تروج پردې ګواهي ور کوي چي هغه دخپل وخت محبوب ویاند بلل کېده او په ژبه کښې یې ماهرانه ،پیغمبرانه او صالحانه پیغام پروت وواو هغه ((صلي الله علیه وسلم )) یې دیوه رښتوني پیغمبر په توګه موږ ته را وپېژاند ،سره تردې چي له هغه سره یوه پیغمبرانه ژبه موجوده وه او دیوه عالم ، عامل مبلغ په توګه یې ترخلګو دريښتینولۍ پیغام رساوه ورسره ترڅنګ یې دخبرو په ځواك کښې توان نغښتی ؤ ،دخبروکولو په جریان کښې یې حوصیله درلوده ، ستړ یایې نه احساسوله او کله چي به یې خبري پیلولې هغو خبرو ته یوه ټاکلې اجنداپه وقفه یې ډول تعین وله ،پر ټاکلې موضوع به ږغېده او خبري یې پرخلګو نه غمېدلې ابن زید عمروابن اخطب انصاري ((رض )) روایت کښې چي :ان النبي صلي الله علیه وسلم صلي الفجر یوماً صعدالمنبر ،فخطبناحتي حضرت الظهر ،فنزل ثم صلي ثم صعدالمنبرفخطبناحتي حضرت العصر ،ثم نزل ثم فصلي ثم صعدالمنبرفخطبناحتي غربت الشمس فاخبرنا بماکاهوکائن فاعلمنااحفظنا ))•

ژباړه : حضرت محمد (ص) یوه ورځ سهار لمونځ ادا کړ او بیا پر منبر کښېنوست موږ ته یې وینا واوروله تر هغه وخته څو چي غرمه سوله بیایې لمونځ ادا کړ وروسته بیا پر منبر کښېنوست څو چي ماز دیګر سو بیا دماز دیګر وخت را غلي بیا یې لمونځ ادا کړ بیا منبر ته وخوت وینا یې واوروله تر ماښامه پوري موږ یې پوه کړو په هغه څه چي هغه کېدونکي دي او موږ هغه څه یاد کړل نو په موږ کي تر نورو زیات پوهه لرونکي هغه وي په چاچي زموږ حافظه زیاته سوه او ومو ساتل کوم چي حضرت محمد رسول الله (ص) راته وفرمایل ((دهمدې خطبې پر مهال )) ددې پورته روایت څخه دا څر ګندېږي چي حضرت محمد رسول الله (ص) داړینو مسایلو لپاره دخبرو لپاره ځانګړي پروسیجردرلود او دهرتبلیغاتي پرو ګرام لپاره یې یو ټاکلې اجندا جوړول چي البته نن یې دژورنالېزم په جهان کښې موډرن رنګ اخیستی. دهمدې حدیث په مصداق موږ حضرت محمد رسول الله (ص) دیوه ښه او بادسپلینه نطاق او ویاند په توګه پېژندلاي سو یا په بله معني دمعاصري نطاقیزي اجندا بنسټګر یې بولو چي البته دخپل وخت او زمان ، منځني زمان ،او سني زمان او راتلونکي زمان هوښیارو خلګو ته به یې خبري دمنني وړ وې ددې ترڅنګ چي نوموړي پخپلو خبرو کي له رساوالي اوروانۍ څخه کار اخیست خوورسره ترڅنګ هغه پر دې ټینګارکاره چي بایدخبره په پوره تحلیل ترسره سي دمینااو طوطي غوندي باید انسان دټیپریکاردر پشان نسي چي هره فیته ور واچوي هغه درنه وایي بلکي په خبرو کښې باید روان والي تر څنګ له مکث او تحلیل څخه کار واخیستل رشتیا او درواغ دخبري معلوم کړي لکه چي پخپله حضرت محمد ((ص)) په دې اړوند فرمایي کفي بالمرء کذباً ان یحدث بکل ماسمع رواه ((مسلم شریف ))

ژباړه : دسړي ددرواغو لپاره همدا بس ده چي هر څه اوري هغه نورو ته بیانوي

له پورته موضوع څخه دا پند اخلو چي رسول الله یو رښتوني پیغمبرانه مبلغ وو او او ور سره تر څنګ دجهان دژور نالېزم یو مبتکر او نوښت ګر استاد دي

عمومي هدف

دانسان تر مغزونو دپیغام رسول ،دخبري کوونکي او خبري اورېدونکي تر منځ دپوهېدني اړیکه دافهام او تفهیم ))په نوم يادېږي دا پروسه چي کله پر کار لوېږي له درې ډوله موډلونه بايدکار واخيستله communication((• سي چي هغه عبارت له ((خبري کولو • ، اوريدلو • ، او ليدلو ))څخه دي ددې تر څنګ دپيغام په وړاندي کولو اودهغه په خپرولوکښي څلورنوراړخونه مد نظر نيول کېږي چي ((هدف ،ځان ښودنه ، اړ تيا ، غوښتنه )) دي که دپورته درو موډولونو او له څلورواړخونو څخه يو هم دپيغام دخپرولو پر مهال دجانيبينو تر منځ ونه کارول سي په دې موريد کښي پيغام نيمګړي را ځي او کله چي پيغام نيمګړي سو هلته مکاليمه هم په صحيح ډول صورت نه نيسي دحضرت محمد ((ص))درسا خبري کولو پايله له همدې ثابتېږي چي هغه په هماغه وخت ټول همدغه اړخونه او توکي مد نظر نيولي ول چي تر اوسه يې نه يوازي په اسلامي ټولنه بلکي په غيراسلامي ټولنه کښي هم له اصولو کار اخيستل کېږي دا پخپله دخبري کولو په مېتودونو کي دحضرت محمد (ص) عمومي مکاليموي ابتکارانه هدف څرګندوي او دهغه هدف هم همدا وو چي انسانان بايد دپوهېدني لپاره له کره ، روانواوساده الفاظو څخه کار واخلي

خصوصي هدف

دحضرت محمد ((ص)) په رسا خبري کولو او دهغوي په رواجولو کښي هم خصوصي هدف داوو چي دخداي مخلوق په ځانګړي ډول عالم ناسوت ((انسانان )) دخداي((ج)) په اوامرو ښه ترا پوه سي او ددې پوهېدنو محدوديت يوازي په هوښياراوخيرکوخلګوکښي پاته نسي بلکي عوام ټوله دالهي اموراتو ،قراني ارشاداتواو ديني رسوماتوڅخه برخمن وي

مقصد

يې داوو چي انسانان ترخپل منځ دپوهيدني لپاره له ټولو هغورواپديدواو مېتودونو څخه کارواخلي کوم چي انسانان خپل منځي ځانونه په پوه کولاي سي

مطلب

موږ بايد دحضرت محمد ((ص)) دطريق مسنونې په عملي کولوکښې هروخت داسي خبري اداب اونزاکتونه ولرو چي نورموله ژبي څخه په عذاب نسي او ښه ترا پوه سي

## حضرت محمدرسول الله(صلي الله عليه وسلم)ديوه سياست پوه په توګه:

)) رهبري يامشرتابه هغه اړتيا ده چي دانسانانوترمنځ مطرح کېږي دامشرتابه پردووعمده leader shipالېډر شيف((
برخووېشله کېږي چي يوه يې ډيموکراتيکه يونواخته مشرتابه ده چي عموماً په دولتي مشرتابه ، وزارت ، رياست ،
مديريت يا دسياسي احزابود((ګوندونو)تشکيلاتي رهبريو لپاره پرمخ وړل کېږي او دهغوي مشرتابه پرغاړه اخلي
هريوکس چي ددې رهبرۍ وړتيا ولري ځان ورته کانديده وي دا مشرتابه ديوه دقيق پلان ،څارنې ،
تطبيق ،پلټنې ،ازموينې ،اونتېجه اخيستني پربنسټ په منظم ډول ولاړ ه وي او ټاکلې پايله په لاس را وړي دوهم
ډول مشر تابه بيا هغه ده چي اما تورډول ولري پريوه ځاي تمرکز نه پيداکوي په ځېنو مواردوکي که اړتياوليدل سي
تغيراوبدلون پکښي رامنځته کېږي دصلاحيت اومسؤليت ساحه نه پکښي اټکلېږي ،څارنه کنټرول او نظارت نوي
پکښي خو تر ډېره وخته دمنظمي او ديموکراتيکي رهبرۍ په پرتله ښه موثره تماميږي چي مثال يې په کليوالي
سطحه دسپينږرو مشر تابه چي هم دروغو جوړو ، دښاديو دورځو دلمانځلو ، دفاتحو دمراسيمو دمشرتابه ، په
کلي کښي دشخړو دهوار ي او نورو لپاره پر مخ وړل کېږي چي نه کوم تشکيل پکښي قرار لري او نه هم کوم اړين
مسؤليت داډول رهبري دلمړي رهبري معکوس توپير لري هغه په دې معني چي په دولتي مشرتابه کښي دپر
سونلوځواني ، کاري ځواك ، استقامت ، پلانيزه پوه مد نظر نيول کېږي خو په دې مشرتابه کښي بيا کليوال مشر
توب ، زړې تجريبې ، ددستر خوان در لودل ، اوپه ټولنه کښي رسوخ درلودل داهغه څه دي چي په نننۍ نړۍ
کښي يې خلګ دمشرتابه يا رهبرۍ په نوم يادوي اما دحضرت ادم (ع) را وروسته دانسانانو دزيات تکثر په پايله
کښي انسانان دګډ ژوند په کولو سره اړ سول چي دټولني دکنترول او مشکلاتو دمخنيوي په دود دالهي اموراتوسره
سم داسي څه طرزالعملونه پر کار واچوي څوورځني کارونه پر مخ بوزي او کومه ستونزه يې تر منځ پيښه نسي دا
ياده سوې خبره چي يو رښتونې حقيقت دي چي دحضرت ادم ( عليه السلام )) له پيدايښت څخه دمځکي پر مخ
دانساني ژوند پيلامه پيل سوېده اماغير اسلامي مؤرخين په دې نظر دي چي دمغارو ددورې څخه نيولې چي
دکمون اوليه وخت تمثيلوي انسانان په ګډ ژوند کولو سره اړ سول په دې دواړو صورتونو کښي له ډېرو
انسانانوسره دخپلو تفوق پسنديو په غرض درهبريت او واکدارۍ غريضه پيدا سوېده
درهبريت او مشرتوب دا غوښتني وروسته دفرعون صفته واك غوښتنو پر بنسټ واووښتي چي دعاجزو او تر لاس
لاندي انسانانو پر ژونددحکم راني کولو ،په هغوي داجباري کارونو دتر سره کولو ، محوه کولو په اړه يې خپل
نفسي تمايلات نورهم پراخ کړل چي دا ده عامه انسانانو لپاره دمحوه کېدو لامل وګرځېدل الله((جل جلاله ))
دخپل فضل او مرحمت په لړ کښي دخپلو صالحو بنده ګانو درالېږلو لړۍ پيل کړله او انساني جهان ته يې درفا لاره
پرانيستې پرېښووله دوخت او زمان په شرايطو سره يې نوي دين ، نوي صحيفې ، او نوي کتابونه راو لېږل
او داړ تيا پر مهال به بيا ديوه بل نوښت په را تګ بل نوي دين را تلئ ټولنيز ژوند به نوي کېده اما دهغه نوښت تر
شا به ددينې اساساتو پرته بل کوم سياسي نظام نه پاته کېده چي نور نړيوال کسان يې په مستقيم يا غير مستقيم
ډول پل يو ني ((پيروي))وکړي ځکه چي په هغه وختونو دانسان فکري تکامل لا هومره پراخ نوو لکه څنګه چي د
حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) تر ظهور وروسته يې سارئ ليده کېده •د حضرت محمد رسول
الله((صلي الله عليه وسلم )) دجسمي پيدايښت څخه دنژدې ماضي او بيا دپيغمبرۍ په وخت کښي چي له يوه
اړخه دنوشېروان ، کسري او قيصر واکمنيو واکدارۍ مو جود وي په بل اړخه کښي په مکه يثرب ، يمن ، شام او

مصر کښي قبيلوي واکمنۍ مو جودي وې دغوتولو دخپلو دولتونو او قبيلوي حکمرانيو لپاره دا سي سالم پلانونه نه
لرل چي دهغوي په توسط انساني جهان ته نجات ور کړي او په سياسي لحاظ يې دا سي خطي مشه نه در لوده
چي وکولاي سي انسانان پر يوه متمر کز نظام را وځر خوي او دژوند کولو په مفهوم يې وپوهوي ددې تر څنګ
دحضرت عيسي (ع) له دين څخه درومي امپراطورۍ انحراف ، دکليساؤ درهبانيت لا مل ګر ځېدلئ وو ايراني
کسري دزر دشت او اتش پرستۍ لوري ته مخ اړونه کړېوه دمکې په قريشو کښي دانساني غلامۍ او غلام ذبحوني
ترخه خرافات هغه لاملونه وه چي ورته بايد دا سي يوه سياسي پروسه ديوه ستره او حقيقي نظام په توګه را څرګ نه
ده سي تر څو دروحاني عالمي پيوند ه څخه تر انساني ټولنيز ژوند پوري ديوه سياسي ثبات بخښونکي نظام او
اساس کښېږ دي چي دپان اسلامېزم په معني په معاصر سياسي تيوري کښي يادول کېږي دانسانو تر منځ توپير ،
دنژاد ، قوم ، ژبي ، رنګ او........... بر بنسټ جوړ نه بلکي هغه بايد دانساني استعداد ، کرامت ، ځراکت او له
خدايه دوېري پر اساساتو ولاړ وي چي حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) ددې کار لپاره بيا هم
غوره انسان ثابت سو دهغه دا کړني چي پاته کسانو لپاره ديوه سالم روش او رهبريت په پيروي دعربو او عجمو په
ور څېرمه نړۍ کښي دمنطقه پرستۍ ،نژادپالني اوسرمايه دارۍ تفوق ټول هغه امتيازاتو له منځه تګ په دې معني
وو چي ، دانسانانو تر منځ داسي مساوات غوښتونکي را منځته سي چي دوګړو تر منځ ددوستۍ مزي ټينګ کړي ،
دنورو سياستوالو په شان نه چي يوازي يې دخپلو سياسي اهدافو دپلي کولو لپاره دمعصومو انسانانو له قووې
څخه کار اخلي په هغه کښي يې يوازي دخپل هدف په لاس را وړل مد نظر نيولي وي ، هغوۍ ته د ا سي وعدې ور
کوي چي هغه وعدې خپله دده په وس کښي هم نوي او له دې ډول نيرنګونو پر هغوي دځوانۍ ړغولو ډنډوره
ړغوي د حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) سياسي پروسه ددې انسانانو څخه په توپير يوازي ددې
لپاره وه چي بشريت ته يو سالم نظام په مېراث پاته سي او تر يوم القيامې پوري دانسانيت لپاره بايدداسي يودولتي
سيستم را منځته سي چي دمادي امکاناتو ترتهيې سربېره انسانانو ته دژوندانه هر اړخيزسهولت را منځته کړي
دپوهني زمينه برابره کړي ، دهغې پوهني په لړ کښي دانسانانو لپاره ،دبېلو ،بېلورشتو په انتخاب سره دراتلونکو
اولسونو دخدمت جوګه سي او ددې څخه مافوق بايد انسانان دمعنويت په مفهوم پوه سي چي دمعني هدف
او غايه يعني څه .

يو رينښتوني سياسي او نظامي رهبر

حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) دهغو ځان غوښتونکو په اړه چي دخلکو دچوپړ
لپاره نه بلکي پر هغوۍ دحکمرانۍ کولو لپاره يې ځا نونه سمبالول غو ښتل کله هم داميريت دمقام
امر نه ور کاوه او هغه چاچه به په خوله دامريت غوښتني هيله لرله په دې يې په دې اړوند به يې اګاه
کول چي بايد په پسې نسي ځکه چي هغوي بيا هم دخپل هوا اوهوس دښکار لپاره دا کار کاوه نه
داولس دارامۍ لپاره په اصحابوکراموکښي دېرداسي کسان ول چي هغوۍ دکورني پيوندپراساس حضرت
محمدرسول الله((صلي الله عليه وسلم )) ته ورنژدې وه ،او ورسره تر څنګ دنورو عامه اصحابو پشان
دده پيرو وه ، دده څخه تقليدکوونکي وه ، ورسره ترڅنګ دوخت دسياسي او نظامي اصولو سره هم
پوه وه ددې وړ تيا يې در لوده چي په سياسي ډګر کښي وځلېږي ددې ټولو سر بېره دعشره مبشره

اصحابانو په ټل واله کښي وه ، صرف په دې اساس چي د حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) په ملګرواو چاپېر کښي نورو خلګو ته دا سوال پيدا نسي چي حضرت محمدرسول الله ((صلي الله عليه وسلم ))دخپش اوخالګې مفهوم افاده کوي دا کارېې ونه کړ چي خپل يودوست په داسي د نده وګماري چي هغه دوخت او زمان له شرايطو او غوښتنواوهمداشان دخلکودسهولت لپاره نه وي حضرت علي (ك )موږ ديوه مثال په توګه يادولاي سو هغه په لس کلنۍ کښي لمړی ماشوم وو چي پرده يې ايمان را ووړ ، دهجرت پر وخت هغه ځوك وو چي دحضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) بستره کښي پرېووت څو کفار په دې وغولوي چي هغه نبي ((صلي الله عليه وسلم )))له کوره نه دي وتلي او همدلته دي ، په ډېرو غزا ګانو کښي ور سره ملګري سو ، زوم يې سوتر دې ټولو سر بېره يې نوموړي داکا زوي وو لکن حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) دخپل رحلت پر مهال هغه خپل ځاي ناستئ ونه ټاکه بلکي يوه شورايې را وغوښته او هغې ته يې دا واك ورکړ چي دېوه زعيم لپاره بايداولس دخپلومشرانواووکيلانو په توسط دا سي يو ځوك ددولتي مشر او سياسي رهبر په توګه غوره کړي چي دخلګو له منځه را غوره سويوي او خلګ يې پخپله خوښه وټاکي څو را تلونکو ستونزو ته دحل لاره وومي او ددولت په تشکيلاتو ، انکشافاتو او اکتشافاتو کښي پرېکنده رول ولري دشورا ټاکنه او دهغې په توسط دزعيم ټاکنه په دې معني وه چي دهر ي رهبري دخاليګاه په رامنځته کېدوسره بايدواکداران خلګ په پوره سنجېده ګی ، ښه دقت يو ښه انتخاب وکړي څو سباه له پښېمانۍ سره مخ نسي ديوه ښه انتخاب غوره کېدل ، ديوې سياسي تګلاري دپلي کولو لپاره ښه لاره پرانيزي ، چي دا پروسه موږ ته حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) په ډېره ښه طريقه ټاکلې او پرېښې ده ، تر هغه وخته چي دصدر اسلام ددورې په اوږدو کښي اصحابو کرامو د حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) ددې کاري پرو سيجير څخه کار اخيست واضح او ښکاره وه چي دانسانانواوپه ځانګړي ډول دسيمي دمسلمانانو تر منځ هيڅ کومه لا نجه را منځته نسوه خو کله چي دصدر اسلام تر دورې وروسته داموريانو کورنۍ دانتخابي شورا دوداو دهغې په لړ کښي ټاکنه په مېراثي بنسټ واوړوله نو لمړی بد بختي يې دا په وجود را وړه داموريانو او عباسيانو دکورنيو نه پخپلاکېدونکي ټکرونه وزېږېدل چي په پايله کښي دعبدالله ابن زبير (رض) ، محمد بن قاسم ، موسي بن نصير ، عتبه بن مسلم ، طارق بن زياد ، حجاج بن يوسف ، صلاح الدين ايوبي ، بنو زنکي او نورو ......... له منځه وړني را منځته او دتير برم پر لمن يې دداغ ټکي پرېښوول حال دا چي حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) دخپل رحلت دشپږو درانژدې کېدو پر بنسټ عز را ئيل ته ستر ګي پر لاره وو بيايې هم دا ثابته کړله چي تر رحلت وروسته بايد داسلامي دين دتر ويج او مځکنۍ پراختيا پروسه جريان ولري دوخت ډېر تاند اتلس کلن ځوان ( اسامه ابن زيد رض ) يې ديوولسم هجري کال دربيع الاول دمياشتي پر ځوارلسمه نېټه په همدې وخت کښي دشام •((اوسنۍ سورېې))په استقامت وټاکه

دهغه انتخاب تر دې آنه موثر ؤچي د حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) تر رحلت وروسته حضرت امير المومنين (ابو بکر (رض) هم دهغه دانتخاب تائيد وکړاو هغه يې بدرګه کړ د روحاني جهان ، اسماني کتاب او اسماني دين دتر ويج لپاره دالهي احکامو او اوا مرو په هدايت درسول ((صلي الله عليه وسلم ))رسالت او دندي هغه ستر مسئوليتونه وه چي په پوره همت يې دهغوي سرته رسول تر سره کړل ددې کارونو پوره تکاملي حالت ددې جوګه وو چي دانساني نړۍ ته دنېکمرغۍ لپاره يودا سي سياسي نظام په وجود را سي چي دعالمي ارواح دمفاداتو تر څنګ انسان ته دورځنيو چارولپاره دنظم ديکته ورکوي اودهغوي مثبتي پايلي درسېدوسره جوخت انسان ديوه اسلامي منظم سياسي نظام ترچترلاندي خپل ديني مقدسات اوورځني کارونه منظم اوترسره کړي

درا شدو خليفه ګانوشخصيتونه او دهغوي دپيروانو يا صدر اسلام ددورې په لړ کښې چي هر خليفه دځراکت ، صدق ، امانت ساتني ، ديانت په اساس مجهز يو انسان وو او دحکومت کولو په تشکيلاتي سيستم هم بلدووهغوي هر يوه دخپل مسئوليت په در شل کښې دهغوي دانتخابي او نوبتي خلافت په لړ کښې ديني ، او اسلامي مقدساتو ته په نړۍ کښې دخپل ګران پيغمبر په تعقيب پراختيا او وده ور کړه دحضرت محمدرسول الله ((صلي الله عليه وسلم ))څخه په مېراث پاته سياسي مثبت سلوك او خوځښتونه يې ديوه رښتوني اساس تاداب وبلل چي تر اصحابو وروسته تابعين هم په دې اړ وه چي دهغه دسنتو څخه په پېروي دخپل سياسي ، علمي او عملي ژوندانه مشکلات په ټولنيزو او اجتماعي اړخونو کښې رفع کړي او ستونزي له مخه لري کړي ددې صحابه ؤاو تابعيونو په ليکو کښې خالد بن وليد دعراق او شام ، طارق ابن زياددااندلس ((هسپانيې )) ، سعد ابن ابي وقاص دايران ،ابو عبيده ابن جراح (رض) دشام ، عمرو ابن عاص دمصر او فلسطين ، قتيبه ابن مسلم دشمالي اسيا ، محمد ابن قاسم دسند ، موسي ابن نصير دافريقا ، محمود غزنوي دسومنات ، صلاح الدين ايوبي دبيت المقدس ، سلطان محمد دقسطنطيې ، او امام شامل دقفقازفاتحينوپشان ډېرجنرالان تير سول چي دلښکر په ډېر لږ انداز به يې دخپل سياسي رياکتفونو عميله په پوره بر ياليتوب تر سره کوله او طارق بن زياد پشان به په هر ځاي کښې موفق کېدل

حضرت محمد((صلي الله عليه وسلم ))دانساني سيرت دتکامل لپاره يوه بې ساري مثال وګرځيد په مل دخپلوسيرتونو يې دځان ملګري دجهالت له تاريکوداسي راوايستل چي هروخت دهغه اصحاب مورته ددېني جهان داسماني ستورودېدراکوي اوددوي •دنفسي تزکيي اوپاته انسانانوته دهغوي دپيروي پربنسټ دهغوتحسين ثبوت راکوي

دفرانسې دسوسياليستي دانقلاب باني (ناپيليون بنافارت ) نظرياتو ته که مورځير سو هغه په دې اړوند يوه تصريح لري چي دسافت هيلانه جزيري ته دسفرپرمهال کښې يې کومه خبره کړېده هغه خبره دده ملګري لاکاس دتاريخ پاڼوته سپارلې ده .

لاکاس وايي:ناپليون دحضرت محمد((صلي الله عليه وسلم ))اوحضرت عمر((رض ))له کړنوڅخه بيخي اغېزمن وو ده غوښتل چي دمصر په شپوورځوکي دځان لپاره داسلام ديانت غوره کړي خوشرايطوورسره وفاونه کړه .
دلاکاس داانګيرنه ښيي چي پسله سلګونوکلونو وروسته بياهم دحضرت محمد((صلي الله عليه وسلم ))ددينې پيروانو مسلمانانو وخپلوځانونوته دپوهيدني سربيره نړيوال امپراطوري جوړوونکي سياسيون دي ته اړوه چي دخپلوفکري کش ماکشونودله منځه وړلو لپاره دحضرت محمد((صلي الله عليه وسلم ))ديانتي لاره تعقيب کړي سره تر دې چي ناپيليون به پر دې برلاسي سوي وي چي هلته ورسېږي او کنه خو موږ دسر په سترګو وينو چي داعتقادي ، روحاني او ديني اساساتو پرته نن اروپايي نړۍ دې ته رسېدلې ده څو دوي دحضرت محمد رسول الله (صلي الله عليه وسلم ) دسياسي تقليد په پيروي يوازي په سياسي چارو کښي دهغه پر پله ګامونه کښېږ دي
په محمدي (ص) نظام کښي دجغرافيايې پراختيا يي اساسات
حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم ))داسلامي نړۍ دټولو قشرونوتر منځ داسلامي محبت په درشل کښي داسي يو پيوند را منځته کړي چي دمديترانې بحيرې له شمالي برخو نه نيولې دلوېديځي افريقا پوري له هغه نه بيا دهمدې افريقا دختيځ تر دارالسلام بيا دلمر خاته په جنوب لوېديځ استقامت تر له هغه نه نيولې داندونيزيا دشرقي جزيرې (چاياپورا) له هغه نه دجنوب په اړخ دمحدب خط په استقامت دشمال لويديځ چين تر ((اورمکي)) له هغه نه نيولې دقفقاز تر شمالي برخو او هغوي نه بيرته دلوېديځ په استقامت تر قبرس او او پر تګال پوري ديوې پراخي سيمي په را منځته کولو دبيلابېلو توکمونو تر منځ ديووالي او وروری تر راتګ سر ښېره ديوه پراخ هيواد په توګه چي تر منځ اوسني سياسي جغرافيوي (جيو پوليټکي ) کرښي نوې موجود ي په يوه قلمرو کښي يو ستر هيواد را منځته کړ چي نن اروپايي نړۍ هم ددې سياسي بهير په تقليد داروپا په دننه کښي ديوه نوي موډرنيز سيستم په پلي کولو سره داروپايي هيوادونو تر منځ يو مشترك سيستم را منځته کړي چي ددې کار لپاره يې لمړۍ پيلامه ديوه مشترك اروپايي پارلمان ، مشترك پولي واحد يورو ، مشترك پاسپورتي نظام يوې وېزې او شمالي اتلانتيك دنظامي تړون (ناټو ) جوړښت بلل کېږي چي داټول پر مختګونه پخپله دحضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم ))دځيرك سياسي تدبر نښي بلالي سو چي نوموړو ور څخه کافي کړيدي کېداسي زموږ ځينو لوستونکو ورونوته به دپورته موضوع مقايسه کول هر اړخيزه ښکار او تميز پر مهال به څه سوالونه ور ته مطرح کېږي اما لکه څه ډول چي مخکي وويل سول دا تقليد يوازي موږ په سياسي اړخ کښي يوه بېلګه بللاي سو نه په ديني او عقيدتي اړخ کښي سره تر دي دلته ماخذيت په دې نه واجديږي چي حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) په زماني لحاظ له ذکرسوو سياسيو نو څخه مخکي وو چي دلته د حضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) سياسي اړتيا له نوموړو

څخه نه احساسوله بلکي ديادو سوو کسانو سياسي اړ تيا چي په مستقيم يا غير مستقيم ډول يې دآن حضرت ((صلي الله عليه وسلم )) پر پله ګام ايښي دي حال داچي داروپايي او نورو امپراطوري جوړوونکو تر څنګ پخپله اسلامي پوهانو دصدر اسلام تر دورې را وروسته هڅي کړي چي په جغرافيوي اړخ کښي اسلامي امپراطورۍ ته سياسي حدودتعين اودخپل هيوادونوساحې پراخي کړي چي په دې مثالونوکښې ځيني دترکانوغوندي پردې کارونوبرلاسي سوي اوځيني دسيدجمالدين افغاني غوندي تر مړيني په دې نه دي توانېدلي چي داسي يو پروسيس په پوره بر ياليتوب پر مخ بوزي
اروپايي پوهان سياست وال له حضرت محمد رسول الله(صلي الله عليه وسلم ) څخه په سياسي ډول متاثر وه او په اعتقادي اړخ کښي دهغه پيروي نه کوله داده هغوي پاته والي چي دهمدې پاته علتونه نوموړي اوس هم دسر پرسترګو ويني هره امپراطوري چي په نړيواله سطحه را منځته کېږي په هماغه ډول نه تر پايه کېږي بلکي داويا وو يا پنځه اويا کلونو په لړ کښي بېرته جوړه سوې امپراطوري له تزلزل يا اقتصادي بحران سره مخ کېږي
په اقتصادي اړخ کښي دمحمدي نظام اجمالي اساسات معاصرو سياستوالوچي دخپلو سياسي اهدافو دمخ ته بېولولپاره خپلي سياسي تکلوري پر دوو برخو ووېشلي يو پرکسون يې دکپيټليزم يا پانګوالۍ سيستم لاره غوره کړه چي په اقتصادي نظام کښي ټولنه دفرد غلام ګرځوي دټولني ټوله سر مايه محدود ه وي او هماغه شتمني دټولني څو محدود سر مايه داران په لاس کښي نيسي او پاته دټولني وګړي دخپلو نسونو دمړولو لپاره ودوي ته اړ وي چي دلته هم په ټولنه دګوته په شمار انسانانو سره دژوند خواړه امتيازونه موجود وي او نور دټولني ډېر وګړي دفقر ، غربت ، مسکنت او خوارۍ سره مخ کېږي چي نه دبشر حقوق يې په اړ تياؤ رسېدلاي سي او نه هم دوي پخپله بل فرکسون يې بيا دسوسياليستۍ برخه ده چي يو فردبه دټولني غلام وي په دې معني چي يو نفر خوارکي به تر حد زياته خپله کاري او جسماني قوه پر کار اچوي هم ټاکلي معاش به لري او بل بيا په دفتر کښي ارام پر چوکۍ ناست يوازي اوامر به صادره وي هم هغومره معاش به يې وي چي پدا دواړو کښي انساني کرامت خوندي نه دي حضرت محمد رسول الله ((صلي الله عليه وسلم )) ددې پروسو څخه برعکس داسلامي اوصولو په رڼا کښي دټولني هرغړي ته دا اختيار ور کړ چي هرڅومره ګټي ،ګټلاي يې سي څوك يې نه سي مانع کېدلاي خوکه په ټولنه کښي څو بېکار ، مسکين ، پس پاتي پاته کېدي نو بيا يې دالهي ار شاداتو په رڼا کښي پر سرمايه دارانو دالله په امر دا فرض کړېوه چي هغوي ته پر ټاکلي اندازه ټاکلي زکات ور کړي دزکات دور کړي لپاره يې هم دوخت پر دې بنسټ وي چي که چيري پر ټاکلي وخت زکات ور نکړل سي له يوه اړخه به دزکات دزياتي ور کړي له امله پر سر مايه دار دزکات کسر ور کړه وغمېږي او بيا به يې له ور کړي څخه انکار کوي په دوهم پړاو کښي دسردار مايه دار مالي تصفيه او بودجوي تعينات له تزلزل سره مخ سي په دريم پړاو کښي به هغه مسکينان او خواران چي څه ته اړ تيا لري تر مسکنت سر بېره

به لټان اموخوته سي او هر وخت به يې دبل په شتمني کي ستر ګي وي لهذا دوخت تعين په زکات او سر سايه پر دې بنسټ دي چي دکار په لړ کښي به تجار په نور ډول ټول کال په ډاډه زړه خپل کار او بار کوي په بېغمه زړه به په کار يووار دخپل مال دخيري داستلو لپاره ور ځ تعينوي ، مسکين به دکال په اوږدو کښي دوس تر بريده خپله خواري کاږي خو که يې څه په لاس را نوړل دلته به دي له خانه څخه څه غواړي دزکات تر څنګ داخترونو په ورځو دخان او مسکين ديو شانته برېښېدو په ملحوظ يې چي په ټولنه کښي را څرګند سي بيا سر سايه واجب کړيده ددې تر څنګ په مساواتي لحاظ دا خاصيت پرېښود په انساني کرامت کښي خان او مسکين کوم توپير نه لري ځکه له دواړو څخه ودواړو ته زکات ور کول يو لازمي حکم دي دخيرا ور کړه خو بيا لاهغه ښکلې پديده ده چي هم پر مسکين او هم پر خان په هر وخت کښي دهر چا لخوا وهر چا ته داصولو په نظر کي نيولو کښي روا دي چي دا خپله موږ ته ښه ډېر ښه او کره بنسټونه ټاکي

په تشکيلاتي او رهبري سيستم کښي دجناب رسول الله (ص) نړيواله مشرتابه او تفکيك

په ټولنېزو نظامونو کښي که موږ ګورو نو داښکارېږي چي يو فرد دجامعې جز دي او اصطلاح هم دا سي پر واردېږي چي (( جز دکل تابع دي )) خو له ټولني پر ته په سازماني ، ګوندي ، دولتي ، امريتي يا رسمي تشکيلاتي بنسټونه که وګورو نو بيا هلته کل دجز تابع بلل کېږي په دې معني چي يو سازمان ، حکومت ، يا رياست ديوه فرد تر امريې لاندي وي چي په دواړو موردو کښي دواړه يو او بل ته اړ تيالري ددې اړ تيا پر بنسټ حضرت محمد رسول الله (صلي الله عليه وسلم ) په وخت کښي دا تشخيص کړيوه چي په فردي او ټولنيز نظامونو کښي بايد فردي او ټولنيز مسؤليتونه او صلاحيتونه ښکاره والي ولري حضرت محمد رسول الله (صلي الله عليه وسلم ) ددې کاري ثبوت لپاره وفرمايل چي : ((کلکم راع وکلکم مسؤل عن رعيته )) رواه البخاري •

ژباړه :هريو مشر ستاسي پوښتېدونکي دخپل رعيت دي

چي دلته کل دجز تابع سو يعني ټول پرسونل په مشر پوري اړه لري او دهغوي دتېروتني پوښتنه هم له ده څخه کېږي

ددې څخه عکس بل ځاي که بيا دنومړي بله خبره ولو لو

((کن في الناس که احد من الناس))

ژباړه:دا سي څه کوه لکه يو چي ې دخلګو څخه کوي

نودلته بيا جز دکل تابع سو

دجناب حضرت محمد((صلي الله عليه وسلم ))دهراړخيزشخصيت پردې بر لاسي ووچي دنړيوالو سياستوالو ديك نواخته نيمګړو طرحو لپاره دي په همغه وخت کښي پوره کاري بر نامې کار ته داهل سپارولو وړاندويني کړيدي د اهغه لويه شتمني ده چي دهغه دمحبانوترڅنګ دهغه په اړونددهغه

شخصيت څيړونكي پردې نه دي توانيدلي چې دحضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم ))
دخواصواوصفاتوكارنامي دي دخپل قلم په محدودانحصاركي راښكيل كړي دكمونيز م دفلسفې يو
مخكښ او پر مادېزم باندي دايمان لرونكي روسي امپراطور (( لېنن )) اثر كه وليدل سي سره تردې چي
د حضرت محمد رسول الله(ص) دعقيدي په پيروي يې خپل تګلورې نه دي ټاكلي داسلام په مشرف
دين يې ځان نه دي مشرف كړي او ددې ستر بهير سره يې دځان دنيك مرغۍ سفر نه دي كړي بياهم
هغه درك كړي چي وكولاي سي دحضرت محمدرسول الله (صلي الله عليه وسلم ) دشخصيت په اړوند
يومكمل كتاب د((انقلاب محمدي ))په نوم وليكي اودسياسي چاروځيني پروسې اوسياسي ځيركتيا يې
وښوي او دنظامي رياكتيپونو پيروي يې وكړي موږ ويلاي سو چي حضرت محمد رسول الله((صلي الله
عليه وسلم )) دنوي اسماني دين او نوي اسماني كتاب په را وړلونه يوازي داچي يو پيغمبرؤ ددې سره
مل حضرت محمدرسول الله((صلي الله عليه وسلم )) ديوه ځيرك فكراو مثبت سياسي سلوك څښتن
وو چي دا پخپله دحضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) يوه معجزه امېزه صفت بلل كېږي
ددي ټولو سربېره حضرت محمد((صلي الله عليه وسلم ))خپلي داسي كارنامي ترشاپرېښي چي دهغوي
هره يوه ددې ګواهي وركوي چي يورښتوني پيغمبرؤ او عالم ناسوت ته دبشارت ، نېكمرغۍ ، ميني ، او
تدبير سر چينه وو •

دنړيوالي ډيپلوماسۍ مبتكر

په نړيوالو نو رمو نو كښي دهيوادونو لپاره په سياسي ديپلوماتيكو اړيكو چي كوم رول لوبوي هغه
سفارتي تعلقات دي همدا سفارتي تعلقات دي چي نړيوال هيوادونه دخپلو اولسونو لپاره دتګونو او را
تګونو وسيلې پوره كوي ددې وسېلو تر څنګ بل دتړاو پيوند پوستي ارتباطات بلل كېږي په هغه وخت
كي چي په رسمي ډول دنړيوالو هيوادنو او امپراطورانو تر منځ يوازي منطق دبريد او لښكر كښۍ پر
محور را ګر ځېدۍ محمد (ص) ددې مبتكر سو چي دنړيوالو هيوادنو تر منځ دجګړې له منطق څخه
مخكي دسفارتي او پوسته يي تعلقاتو په توسط اړيكي ټينګي كړي چي دروم دهرقل په نوم يې حيه ابن
خليفه ته ، دفارس لوي كسري ته دشجاع ابن وهب په لاسونو ليكونه واستول •او ددې ليكنوپه
توسط يې دپوستي او سفارتي تعلقاتو اساس كښېښود

او هغه دهر مثبت او روا سياسي ثبات لپاره يې دا سي يوه پيلامه كښېښووله چي دنړۍ هر سياسي
ځواكمن به په مستقيم او غير مستقيم ډول ځيني اغېز من وي اوحضرت محمد رسول الله(صلي الله
عليه وسلم ) به ديوه سياسي رهبر په توګه كرټ مني

عمومي هدف

په هراړ خيز او سيستماتيك ژوندانه او دهغه په پلي كولو سره دحضرت محمد ((صلي الله عليه وسلم
))عمومي هدف دا وو چي انسانان مكلفيت لري چي دخداي ددين دبرپايه كولواوپه ټولنيز نظام كښي

دانساني ژونددترسره کولولپاره له ټولو هغو مثبتو کړنو څخه ګټه پورته کړي کوم چي انسان په ژوندانه کښي تر هدفه او تر مړيني وروسته دبيا را ژوند ي کېدو په در شل کښي تر نېکمرغۍ پوري رسوي ، ديوه سالم ژوند تضمين ورکوي او دهغه ټاکلي نتائج په مثبت اړخ کښي را څرګندوي

خصوصي هدف

په دې معني چي هر انسان بايد خپله د نده پر ټاکلي وخت تر سره کړي او دهماغي دندي په ترسره کولو سره پروخت دهغې دښې پايلي انتظار ولري او نتېجه يې په لاس را وړي څو انسانان دګډ ،منظم ،منسجم ، مترقي او عزتمند ژوند درلودونکي وي

مقصد

مقصد يې دا چي حضرت محمد رسول الله ((ص)) دخپل هدف دتر لاسه کولو لپاره په ټاکلي وخت کښي دټاکلو اشخاصو په تعين او همکاري سره کولاي سواي چي ځان دهدف تر پړاوه ورسوي

مطلب

مطلب داچي موږ بايد دنوموړي له کار نامو څخه يوازي په ديني اړخ کښي نه بلکي په ټول ټولنېز ژوندانه کښي دطريقې پيرو واوسو او په ټولو اوامرو کښي دهغه پر پله پل کښېږدو او نړيوالو ته دا جوته کړو چي مسلمانان که عبادت کولاي سي دبشريت دسوکالۍ او نېکمرغۍ لپاره يوه ښه مترقي نظام هم منځته را وړاي په شرط ددې چي که نړويوال موقع ور لره ورکړي

## حضرت محمد(صلي الله عليه وسلم)ديوه ښوونكي په توګه:

ښوونكيتوب دجهالت دتورتمونو دباطلو دودونو دليري كولو انسانته دنيكمرغه وسيلو دبرابرولو لاره پرهغه څه باندي متمركز كېږي چي الله دانسانانو دنېكمرغۍ لپاره ټاكلي دي دالاره نه يوازي دجهالت اوناپوهۍ دلښكر وپه وړاندي دهمت اوميړاني ببلګه بلل كېږي ددې څخه سربېره انسانته دهغه جوهر ښكلا وربخښي چي په احاديثو كښي يې كمال ،هنر ، اخلاق ، سلوك ، متانت ،تعليم ،ځراكت اوعالم انسان ته دچوپړ كولو وړانګي ځلېدل پراته وي دمردودوكړنو ،خرافاتو ، چټياتو له اړتونه انسان ته دازادۍ لاروركوي لو ي الله ((جل جلاله )) دخپل عظيم امتحان په لړكي لمړي دپوهني اوناپوهني ددركولو په ازميښت كښي شيطان ملعون او ملائكي (ع ) دباباادم دلمړي موجوديت پر مهال واچولې چي په دې از موينه كښي شيطان پكښي مردود او ملائكي پكښي بريالۍ وختلې هغوي يې وپوښتلي دهغه دپوښتنو په وړاندي يې دخپل عجز په اعتراف د(( لاعلم لنا الا ماعلم تنا )) په ويلوسرخمي سوې دالله دغه ازمويل سوواوپه ازمئېښت كښي كامياب سوو بنده ګانو ته د الله ((جل جلاله )) پوښتنه هم پردي بنستې وه چي پرمځكه دهغه په باري حكمت دپيداكيدو نكو محبسمو بنده ګانو دپوهوني لپاره دزده كړي بنستې كښيښوول سي اوهغوي ته دسترازموئېښت ترځنګ دمځكي خلافت وروسپاري پرمځكه ددې خلافت دسپارني پيلامه چي دحضرت ادم(ع ) دپيدايښت سره سم پيل سوه نو الله ((جل جلاله )) دهغه دبي شانه قدرت اوحكمت په درشل كښي دهغه په وجود كښي دملائكو څخه دپوښتل سوو پوښتنو دجواب ويلو توان پداسي حال كښي يې له ملايكو پرته دبابا ادم ((عليه السلام))په ټېر او مغز كښيښود چي دخبرو كولو اغاز يې هم دپوښتل اشياؤ دنومونو ښودل وه چي دهمدې په مرسته په برني ډول په انسانانوكښي لمړي انسان حضرت ادم (ع )دښوونكي غوندي وو اما په دې اساس چي انسان دشيطان غوندي دسركښي په لوموكي راګيرنسي دهغه په وجودكي يې دپيدايښت له نقطي دتكامل پړاوونه په تدريجي ډول مندرج كړل چي له وړكتوبه څخه دځوانۍ ،پوختيا اوزړښت پوري دژوندانه دنوروسلوكوترځنګ دپوهني لپاره تلاښ وريه برخه كړ ددې تلاښ درفع كولو لپاره الله ((جل جلاله )) دانسانانودلارښووني لپاره تر حضرت ادم (ع ) وروسته دپيغمبرانوپشان داسي ښوونكي غوره كړل كوم چي په مخكنيو پړاګراپونو كي يې يادونه تېره سوه خوددنيايې زده كړوسربيره دآخرت دنيكمرغي اوپه دي جهان كښي دجهالت دتاريكودمحوه كولو په منظوردسپيځلتيا ،نورانيت ،ځراكت اوحسن خلق په توسط بې سارې لورينه وه .دحضراتوپيغمبرانو(ع ) راتګ اودهغوي ښوونكي توب يوازي ددې لپاره نوو چي هغو ناپوهوكسانوته لاره وښوي كوم چي دوحدت الوجود ذات دموجوديت په اړه معلومات نه لري ،خپل ځان نه پيژني ، دانسانيت ژوندانه هست اونيست په مفهوم نه پوهيږي ، بلكي دهغولاروركولارويانو لپاره يې هم خپل استازي اوپيغمبران راوليږل چي يوځلي د خداي((جل جلاله )) دصالحو بندګانو پيغمبرانو((عليهم الصلوة والسلام)) په توسط دحقانيت لاري ورښوول سوې وي اوبيادوي پرېښې وي .د الله ((جل جلاله )) په دغوپاكوبندګانو كښي هريوپيغمبرع دبشارت هغه استازي باله كېده چي وانسانيت ته يې دكرامت لاره ښووله .د خداي((جل جلاله )) ددغوسپيڅلوبنده ګانو وروستي جسمي استازي چي په معنويت كښي له ټولوانسانانو لمړي بلل كيدي دي نړۍ ته ديوه وروستي ديني استازي په توګه راوليږه دااستازي يې دكائناتو سردار حضرت محمد((صلي الله عليه وسلم ))وو خداي((جل جلاله )) حضرت محمد((صلي الله عليه وسلم ))ته دهغوښواوخارق العاده صفاتو په وركولو سره هغه ددې جوګه كړترڅوله هغوڅخه په ګته پورته كولوسره ديودرانه پيغمبر((صلي الله عليه وسلم ))ترځنګ ديوه

پیاوړي استاد په توګه داسي راڅرګند سي ترڅودهغه په ښوونه دهغه دچاپیریال خلک له نواهیو رادباندي اودحق په لاره کښي دهغه زده کوونکي سي
بنستېزه لارښوونه
.دحضرت محمد((صلي الله علیه وسلم ))دښوونکیتوب ژوراساسات هغه ژوربنسټونه وه چي ترده وروسته په هر اعتقادي ، اجتماعي ،اقتصادي ،سیاسي اوساینسي تدریسي سیستم کښي دهغه پلي کولوته اړتیا وه .دحضرت محمد((صلي الله علیه وسلم ))ښوونکتوب که له یوه اړخه دژبي پرسر ددعوت اوارشاد دترویج تدریس پرغاړه اخیستي وورسره ترڅنګ ټول هغه څه چي ده ویلي په عمل کښي دهغوي بشپړ پلي کول ددې جوګه ول چي دنظري اوعملي تدریس ترمنځ کوم تفاوت رانسي اوددي دواړو درسي روشونو پلي کول یو شانته موزون وي پایله یې هم داوه چي پربلونکو یې په تدریجي ډول پوره اغیزه کوله .داکارچي په موجوده تدریسي موډرنو سیستمونوکي په نوم یادیږي دمڅبتوپایلو ملبس اوباني یې هم بیا حضرت محمد((صلي الله علیه LICTUR او ROLL Play وسلم ))بلل کیده .دوینا اوعمل داتدریسي بهیر چي دالله له لوري دجبرائیل په توسط ورته لارښوونه کیدله لمړي هغه((صلي الله علیه وسلم ))دخپل کور له غړوڅخه پیل کړ.هغوي ته دحقانیت دابلاغ ترڅنګ دعملي حرکاتو سکناتو په ښوولوسره پدي ګمارل چي ترکوردباندي هم دهغه دکړو تقلید اوپیروي وکړي اودټولني پرخلکو یې اغیزه ثابته سي ده حضرت محمد((صلي الله علیه وسلم ))پدي اړوند له خپل کورکلي اومالت څخه دخپلي پیغمبري پرلور دبریالي •تلني پایله وه چي لمړي یې دهغو له حقانیت اونیکمرغي څخه نژدي چاپیریال متاثرکړ .له صفره څخه پیل دحضرت محمد((صلي الله علیه وسلم ))دپیغمبري اوښوونکیتوب داپروسه تردي کامیابه سوه چي په لمړي قدم دهغه دژوند ملګري بي بي خدیجة الکبراي ((رض))اوپه ئکیانوکي حضرت علي ((کرم الله وجه))دبشارت له فیضه برخمن سول ګام پرګام دحضرت محمد((صلي الله علیه وسلم ))دښوونکي توب تدریسي اوعملي پروسه په وروسته کښي پیغمبرانه تبلیغ دهغه ټول ملګري دښوونکوپه توګه راوټوکول اوحضرت محمد((صلي الله علیه وسلم ))دراټلونکودستونزودحل لپاره و هغوي((رضي الله عنهم )) ته ددرس ورکولو په دود دستوروپشان ځلاند ښوونکي پریښوول .وحق اونسانیت ته دهدایت دغه استاد چي دښوونکو دروزني لوړه د نه ده یې په غاړه لرله دخپلي پیغمبري ترڅنګ دښوونکیتوب دثبوت رښتوني تائید دالهي خفي ارشاد مصداق پرحدیث شریف کاوه چي :انما بعث المعلما )
ژباړه : زه بس دیوه ښوونکي په توګه را لېږل سوي یم
معني داچي زه تاسوته دخداي له لوري دیوه ښوونکي په صفت رالیږل سوي یم .دمعلمیت دمقام تثبیت هغه د نده وه چي دانساني فکري تکامل په لمړي پړاوکي همداپیغمبر((صلي الله علیه وسلم ))اوړه ورکړله پوهه یې دټولو انسانانو لپاره یو شان پلان کړېوه
حضرت محمد((صلي الله علیه وسلم ))چي دښوونکیتوب پیغام خپراوه یوازي دمحدودوکسانو لپاره نوو بلکي دجهالت دتاریکوتورتمونودورکاوي لپاره دپوهني پیغام عام وو هغه په هرځاي هرچیري اوڅوك چي وه په دې یې ګمارل چي تاسوباید دپوهني دبهیر پرلور ګام پورته کړي ځاي او مکان یې وپوهني ته نوو ټاکلی لکه په نبوي (ص) حدیث کښي فرمایي :---
((العلم ضالة مؤمن فاء ین وجدهافهواحق بها ))
ژباړه:پوهنه دمؤمن یوه ورکه ده هر چیري چي یې دا ورکه پیدا کړله دهمدې مؤمن حق دي

هغه خپله سرته ، ورسوي نوروته يې وښوي ،بالاخره عامه يې کړي پرښوونکيتوب او زده کړې توب ټينګار ددې پوهاوي په اړونديوازي دده زده کړي تر لاسه کول مراد نه دي ددې سره جوخت انسانانو ته ښايي چې هم پوه سي ، هم دپوهې زده کوونکي سي هم دپوهانو سره مينه ولري لکه په بل نبوي (ص) حديث کښې چې فرمائي :
کن عالماً اومتعالماً اوسا معاً
ژباړه : ته يوپوه ((عالم سه)) ، زده کوونکي ((متعلم ))سه ، غوږنيوونکي محب يادوست يې سه
دپورته حديث نبوي((صلي الله عليه وسلم ))جملاتي ترکيب که څه لږاومختصردي .ور سره تر څنګ پخپله غبړه کښې يو پراخ معنوي پيغام لري او دهغه مفهوم لرونکي دي چې موږيې دلته هڅونسوليکلاي په ترکيبي ډول که ددې حديث نبوي((صلي الله عليه وسلم ))په لنډون بسنه وکړولاندي وضاحت ته اړتيا محسوسولاي سو (کن عالماً ))ته ښوونکي سه ،ياته عالم اوپوه سه .پدې معني چې دپوهني په لاره کښې ځان ترداسي پړاوه ورسوه ترڅوتاته خلګ ديوه عامل عالم په سترګه وګوري ددې مقام دترلاسه کولومراحل خوهغه څه دي چې بې دزده کړي اودهغوي دپلاس راوړي څخه بل څه نه کيږي اوکله چې تا دمتعليمۍ دوره تېره کړله عامل اوعالم په پوهنه سره سوې داجوته ده چې ته به دخلګودپوه کولولپاره دجهالت په وړاندې دمقابلې لاره غوره کوې !
زده کوونکي به ترتا رادرومي اوديوه عالم په توګه به ستا احترام ساتي ددې علميت په برکت به ته د الله ((جل جلاله )) دهغو بندګانوپه ټلواله کښې وشميرل سي چې راتلونکي به يې دروښانه مستقبل سره مخ وي ددې ترڅنګ به ستا دژوندانه خالي شبې ددې په عوض چې په چټلوکارونو تيرېږي اوډکيږي هغه به دچټياتو اومنکراتوپه ګرداب کښې ديوه لاروکي مانوپه توګه پاته کيږي په عوض کښې به يې دروښانتيا لاره پيداکوې وخت به دې عبث نځي اودعبوديت په دې رسالت کښې به دخپل خواړه ژوند حقايقومصرفوې سره تردې چې په دې جهان کښې به ددرناوي لرونکي کس په توګه راڅرګنديږي داخرت لپاره به هم له ځانه سره دنيك عمل توښه لرې اوداخري څخه ترمخه به ستا دزده کړي پيروان دانسانيت دچوپړمصدرګرځي په ټولنه کښې به ستا دلاس دروزل سوو کسانو څخه دهغوي دترلاسه سوي پوهني اوبرکت په توسط تيارې له منځه ځي ،خلګ به يې له فيضه برخمن کيږي ، خلګ به ددينې اواعتقادي فيوضاتودترلاسه کولو ترڅنګ دژوندانه دچارو دپرمختګ اواسانتيا لارې په برخه کوي اوبالاخره په ټولنه کښې به دبې سوادۍ اوناپوهې ريښې له بيخه خيژي دعامه تعليم اوسواد پروسه به جاري ساتل کيږي دحضرت محمد((صلي الله عليه وسلم ))داستادانه داوصيت موضوع يوازي هغه چا ته نه مواجه کيږي چې هغه په همغه دصدراسلام په دوره کښې يونفرمخاطب کړيوو بلکې هريوانسان چې ددې کلمې له مفهوم اولوستني سره مخيږي همدا يې ورته پيغام دي بايد پوه واوسي چې هر هغه انسان چې دعقلي او فکري تميز په در لودلو سره ديوه څه تر منځ توپير کولاي سي بايد دمادي او معنوي ، دنيوي او اخروي مفاداتو دتر لاسه کولو او دهغوي په وړاندې دضررونو دنفي کولو په موخه اساسي تعليمات ، هنري کمال او تخنيکي زده کړو دتر سره کلو لپاره يوعالم له ځانه جوړ او نورو ته په ښوونه سره خپل هغه مسؤليت بشپړ کړي کوم چې عامه انسانان يې دپو هني فيض ته اړ تيا محسوسوي چې په دې سره به د((کن عالماً )) خبره هم تر يوې اندازې پرځاي کړېوي
((اومتعالماً)) دپورته حديث دوهمه فقره دتعلميت تر څنګ انسان دې ته اړ باسي چې دپورته علمي وقاردتر لاسه کولو لپاره بايد انسان متعلم يا زده کوونکي اوسي پردې اساس چې ددې فقرې په لړ کښې هم د((کن)) لفظ چې په عالماً کښې را غلي دي دلته پر ((او)) باندې عطف کېږي چې اصلاً بايد((کن متعالماً )) وويل سي پردې بنسټ چې دهمدې حديث شريف جمله لنډه سي ، تکرار د((کن )) څو څو ځلې پکښې تکرار نسي نو يې تر عالماً را وروسته

ددې حدیث په نورو فقروکې د(( کن )) له لفظ څخه صرف نظر کړې وو او د((کن )) په عوض یې ((او )) ذکر کړیدي دحضرت محمد رسول الله((صلي الله علیه وسلم )) ژبنۍ وړتیا چې دلته یې په دې حدیث کښې ځاې ور کړې او دجملې اختصار یې واقع کړیدي پردې شاهدي ور کوي چې حضرت محمد رسول الله((صلي الله علیه وسلم )) دپیغمبرۍ ترڅنګ یو پیا وړې ژبنۍ استادوو او دژبنې ګردوداو لیك دود په مېتود لوژۍ او فونولوژۍ ښه پوهېدې هغه ژبنۍ دا سې لهجه درلوده چې وړ تیا یې په تورو کښې نه لیدل کېږي • په هغووختونو کښې چې ژبنۍ ګرامري کوم اساسي مېتود نوو موجود ، صرفي او نحوي قواعد په دومره اندازه نوه تحلیل او څېړل سوي لکه تر هغه په راوروسته پېرونو کښې چې دهغوي لپاره ددیني چارو دکتابونو داسانتیا په پراخه اندازه کتابونه لیکل سویدي او یا هم په دولتي او شخصي پوهنتونو کښې همدا صرفي او نحوي فن دژورنالیزم ، او بشري علومو (ادبیاتو ) درشتو یو اساسي جز وګرځي د(( اومتعالماً )) دکلمې کارونه چې جناب حضرت محمد رسول الله((صلي الله علیه وسلم )) موږ ته پیغام په توګه پرېښې ده موږ ته امرکور چې باید تل دپوهې په لټه کښې زده کوونکي واوسو که موږ دزده کړې په لټه کښې نه اوسو نوبیا به په څه ډول وکولاې سو چې دیوه عالم درجې ته ځانونه ور ورسوو د حضرت محمد رسول الله((صلي الله علیه وسلم )) د((اومتعالماً )) دکلمې دا پیغام دالهي پیغام ( قراني ایت ) (( فسئلواهل اذکر انکنتم لا تعلمون )) څخه سر چینه اخلي ارشاد کړیدي چې ژباړه یې ده

(( تا سو وپوښتۍ دپوهې څښتنان ! که چېري تاسو نه پوهېداست ))

دحضرت محمد رسول الله((صلي الله علیه وسلم )) ددې مکمل حدیث درښتینولي او حقیقت ثبوت پخپله همداپورته ذکرسوي ایت مبارك دیوه بنستیزاساس په توګه راته پیغامیږي پس موږاړیواودنده لروچې دحضرت محمد رسول الله ((صلي الله علیه وسلم )) دوړاندي سوي حدیث ددې دوهمې فقرې په اړوند چې دپوهنې په لاسته راړولو اکیدا موږ مجبوروي ، باید متعلمین واوسواوتر هغه وخته زده کړه وکړو څودبري تردرشله ځانونه ورسوو چې په دې سره به دوړاندي سوي نبوي حدیث د((اومتعالماً)) کلمه تر یوې اندازې پر کار اچولې وي ((اوسامعاً ))

دپورته حدیث دریمه فقره چې د(( اوسامعاً )) په کلیمه تلفظ کېږي داهم د((اومتعالما))دکلمې په څېر داصلیت له رویه د((کن )) کلیمه لري د((اوسامعاً))کلیمه ددې انګېرنه کوي چې انسان بایدیوازې دښوونکي په توګه نه اوسي اونه بایددښوونکیتوب څخه په ګټۀ پورته کېدنه سره زده کوونکي واوسي بلکي انسان باید دپوهنې په پړاوونو ، کښې دهر مثبت نظر په اورېدلو ،له پوهانو څخه معلو ماتي ګټه په تر لاسه کولو ،دتبلیغ ،وینااونورواورېدونکو له رواتوکو څخه دګټې او چتولو لپاره غوږ نویوونکي واوسي موږکه د((اوسامعاً))کلمې ته ښه ځېرسونوپه دې کلیمه کښې تر((اومتعالماً)) زیات اثرات ننګولاې سو هغه په دې معنې چې که موږ خبري کوو نو دلته مو فکري تمر کز یوازې پرخپلومغزې اوځاني زده کړه متمرکزوي توجه مو یوازې دټاکلي کس څخه دټاکلي موضوع په تر لاسه کولومرکزیت لري یوازې په هغه څه سمدستي پوهېږوچې موږ یې مخاطب ته وایو چې دلته دپیغام څلور اړخونه ((ځان ښودنه ،هدف ، اړتیا ،او غوښتنه )) پرکا ر لوېږي که موږ دتدریس پرمهال خبري کوو نو دلته مو هم ټول دتشخیص واك پر خپلو خبرو ولاړ وي او دنورو له اورېدو څخه په دې محروم یو چې یوازې خپله خبره کوي ، مصروفیت مو دخپلو خبرو په اړ وند وي تر هغه دمه فرصت نسو ځیني تر لاسه کولاې څو چې سقوط مو نوي اختیار کړې او دمتقابل اړخ خبره مو نوې او رېدلې دحضرت محمد رسول الله((صلي الله علیه وسلم )) استادانه مهارت موږ ته دلته د((اوسامعاً )) په کلمه کښې بیا په ثبوت رسېږي چې په اورېدلو کښې تر ویلوزیات حکمت

نغښتې دي ، هر هغه څوك چې څه اوري ډېر ښه وي دناستو كسانو له ټولو ويونو څخه خبرېږي دهر يوه خبره په ښه غور تحليل او تجزيه كولاي سي ،دمجلس يا غونډې په لړ كښې دېبلابېلو كسانو اورېدل ، په وركشاف ، مېتينك ، كانفرنس او سمينار كښې ګډون هم دهمدې لپاره وي تر څو دنورو څخه دمعلو ماتو دتر لاسه كولو لپاره اشتراك وكړي او پخپلو پوهنيزو معلو ماتو كښې نور معلومات اضافه كړي پس دې نتېجې ته رسېږو چې دپوهنې دترلاسه كولواوپه نورو عادي حالاتو كښې تر ډېره دپوهو كسانو اوهغوكسانو چې معنويت ته تر ماديت تر جيح ور كوي ، ورته غو ږ نيول پخپله پر دې اثر ښندي چې انسان بايد په هر مهال كښې دعلميت ددر لودني په لټه كښې وي بايد په عامه چاپير كښې هم انسان پوهانو ته غوږنيوونكي واوسي ددې پورته موضوع دتاكيدپه اړ وند په قران كريم كښې ډېر داسي ار شادات سته چي بايد په ښو چاروكښې انسان غوږنيوونكي واوسي حتي په قراني ويونو كښې خپل سمع يا اورېدل دوجوب تر سرحده رسېږي داوردلو دا پروسه ددې لپاره رويكارېږي چې موږ بايد هر څه ځيني زده او سمعي اړخونو څخه هم په پوهه كښې متاثره سو ،وكولاي سو چي دليدلو تر څنګ په اوريدلو كښې دخپلې پوهې په اړ وند خپل فكري سطحه لوړه كړو

په پوهنه كښې رشته يي اصول

دپورته حديث شريف څخه په انتباه اخيستنه سره دا جوتېږي چې انسان په هر اړخ كښې پوهني ته اړ تيا لري صرف دالهي ارشاداتو پر بنسټ چې (( ان دين عندالله الاسلام)) انسانان لمړۍ په ديني او اعتقادي علومو مكلف دي چي زده يې كړي هغه په دې معني چي تر هرڅه دمخه بايد په ايډيولوژيكي ((عقيدتي))اړخ كښې د يوه سالم انسان درا منځته كېدو په موخه انسانان لمړي فكراً جوړ سي دچاچي فكري ساحه په عقيدتي پوهنه سمبال سي ، اعتقادي ، خلا يې له منځه ولاړ ه سي ور سره تر څنګ دهغې خلا دډكېدو په ترسره كېدو سره هغه اوهام چي دانساني فكر په خانقا كوم تزلزل منځته را وړي له منځه ځي كله چي دانسان فكري او هام كم او يا نيستۍ سره مخ سول په داسي حالاتوكښې انسان ته پخپله يو نوعه تسكين پدي خاطر را منځته كېږي چي انساني فكر يې بشپړاوكومه اندېښنه له ځانه سره نه لري ددېني او اعتقادي زده كړي دتر لاسه كولو په مو خه الله ( ج ) په خپل پاك كلام قرانكريم كښې فرمايي (( ان دين عندالله الاسلام))

ژباړه : په رشتيا چي الله ته دمنلو وړدين ،داسلام دين دي يعني له دې دينه نور دينونه منسوخ دي ))

او دا دين هغه وخت دانسان په مغز كښې ځا ي نيسي څو انسانان يې دزده كړي په لټه كښې واوسي اوترهغه مهاله به وي چي انسان دنيستۍ تر پولو رسېږي او ياڅوچي همداانسان ته دنيكۍ او بدې لاري دتميزتوپيرورپه برخه كولاي سي

ددين په زده كړه كښې ښځينه ښوونكي •

ديوه منظم ښوونكي په توګه يې ټولني ته دا ثابتوله ، هغه كسان چي دنا محرموښځوسره دليدلو جوګه نوه او يا هم دوخت ښځو دستر دساتني په موخه حضرت محمد رسول الله ((صلي الله عليه وسلم )) څخه ځان پټاوه او يا هم دهغوي مېړنوحضرت محمد رسول الله((صلي الله عليه وسلم )) دحيا په لرلو دكورني مجامعت دستونزو په اړه معلومات نسواي غوښتلاي دلته دا اړينه وه چي دامت مسلمه په چوكاټ كښې دښځينه لپاره بايدداسي ښوونكي موجودوي چي دجنسيت له رويه كومه ستونزه ورسره و نه لري ځكه نودحضرت محمد((صلي الله عليه وسلم )) بيبياني چي دامهات المومنين په نوم يادي سوې دلته دهغوښوونكوپه رول كښې راڅرګندي كړي وې چي دښځينه ستونزودمخنيوي په اړونديې دخداي فرامين له حضرت محمد((صلي الله عليه وسلم ))څخه او رېدول او بيايې

هغه تر نورو مستوراتو پوري وررسول دالمان لمړۍ وزير که څه هم په عقيدوي ډول له حضرت محمد((صلي الله عليه وسلم ))سره فکري توافق نه ښاوه ، دهغه دلاري پيروي په پټڅه نوه لکن اړوو چي دخپل بې سرپرسته ملت لپاره بياهم دهغه لاره ونيسي اوخپل ملت ته مجبوراًداسلام دين ته دپناه ور وړلو په موخه خپل ملت ته درفا لاره پرانيزي

په کورنيو کښي دناستو ښځوچي له خپل محرم څخه پرته يې دليدلو اجازه نسته دي ته اړتياوه چي حضرت محمد((صلي الله عليه وسلم ))ددغوپه کوروکي دناستوښځو لپاره دا سي ښوونکي وروزي چي هغوی هم ښځينه جنس اوددوي لپاره دمخ کېدو کوم ممانعت نوي چي هغه هم همدابيبياني وې پس موږ ويلاي سو چي دحضرت محمد((صلي الله عليه وسلم )) فرامين دزياتو ازدواجونو په موخه په دې معني نوو چي يوازي دي ښځي دنارينه دجنسي غريضې دسړولو لپاره ديوې الې په توګه وکارول سي •بلکي په مشروع لاره کښي دنارينه او ښځينه تر منځ ديوه دوامدار ټولينيز ژوند اساس کښېږدي پر ستر ټينګار هم په دې موخه نوو چي نارينه دي له ښځينه او ښځينه دي له نارينه سره تو پير ولري يو له بله دي نفرت وکړي هغه عکساً په دې مفهوم وو چي دټاکلو انسانانو تر منځ بايد دميني راز دوام وومومي او تر پايه ملګري واوسي او که احياناً دستر مسئله له منځه ولاړه سي نوپه دې صورت کښي دپرديو انسانانو تر منځ داړيکو ټينګول ددوستوکسانواوکورنيواړيکولرونکوانسانانوتر منځ دنامطمئن ژوندفضارامنځته کېږي اوله امله يې دکورنيوترڅنګ په ټولنه کښي دسوي اعتماد په خپرېدو تزلزل را منځته کېږي او که دستراوعفت لاره غوره سي نو نارينه ته ټاکلي د نده ورپه غاړه کېږي هغه په دې معني چي نارينه مکلف دي چي دکورنيو دعاجزوانسانانو لپاره دکفاف دبرابرولو چاري پر مخ بوزي او ښځينه مکلفه کېږي چي په کورکښي ددننني انظباط او دسپلين را منځته اوموردکوردانسانانولپاره دصدراعظم رول ولوبوي چي دلته پخپله هره کورنۍ ديو دولتي تشکيل او مور په کور کښي دحکومت دچارو سمبالوونکې بلل کېږي

د فخرالمو جودات سرور کاينات حضرت محمد رسول الله (صلي الله عليه وسلم ) فر مودې که موږ مدنظر ونيسو هم همدا موږته بيانوي چي بايد لمړي دپورته ايت کريمه په مصداق دمعنوي علومو په پيروي خپلي تګلاري ته مسيروټاکو دعلومو په زده کړي دوهم پړاواجتماعي علومو بلل کېږي چي انسان بايد داسي تعاليم ولولي او زده يې کړي څودهغو په توسط وکولاي سي چي دټولني او چاپير دخلګوسره دراسه درسه ، را کړي ور کړي ، او ټولنيز محيط په پېژندنه دبشر دتاريخ ماضي او راتلونکې تحليل کړي ،پخپل فکري سمبالښت سره فکري اړتيا وي پوره کړي څووکولاي سي له دې لاري په ټولنه کښي ديوه محبوب او عادي انسان په توګه قرار ولري چي په دې اساس حضرت محمد رسول الله(صلي الله عليه وسلم ) تل ټينګار کړي چي په ټولنه کښي تاسو ژوندوکړي او له رهباتنيت څخه ځانونه را وګرځوي په دريم پړاو کښي بيا پر دې بنسټ چي انسان وکولاي سي په تخنيکي اړخ کښي پوه سي )) او زماني شرايط metiryials))په درلودلو سره اړوندسيميز توکي((standard planځانته ديوه ټاکلي پلان (( )) برنامه بريالۍ کړي او ځانته دراتلونکي action planبرابر کړي او دهمغه پلان په پيروي خپله دکاري پلان (( )) خاکه تر سيم کړي نو بيا اړ تيا ددې ده چي په ساينسي علومو کښي developmentplanلپاره دانکشافي پلان(( هڅه وکړي ،هغوي زده کړي او دعمل په ساحه کښي يې پلي کړي په قران کريم کښي ډېر داسي ارشادات سته • په هغوي کښي ساينسي علومو ته اشاره سوېده دهمغو په رڼا کښي موږ اړ يوځو وکولاي سوزينه پر زينه دپوهني له تر لاسه کولو ، پلي کولو او سرته رسولو سره ددرو يادو سوو پروسو په تعميل دپوهي په ګڼه سمبال او دکاملو انسانانو په توګه دايډيولوژۍ او ټکنولوژۍ دنورومونو په پلي کولو دارضي• اوحياتي امکاناتو او موادو په استعمال

سره دژوند له نعمتونومشبته ګټه پورته کړو ددې تولوانتباهاتو په تر لاسه کولو سره دا جوتېږي چې دا ټول هغه څه دي حضرت محمد رسول الله (( صلي الله عليه وسلم )) په مستقيم يا غير مستقيم ډول سره موږ ته ديوه رښتوني ښوونکي په توګه وصيت پرېښي دي او موږ يې په پل يوني پسي لار تعقيبوو
دپوهي په لټه کښي زماني او محيطي جغرافيه
حضرت محمد رسول الله (صلي الله عليه وسلم ))دپوهي په ترلاسه کولواودهغوي په لټه کښي ټول هغه څه چې انسانان ور ته په مادي لحاظ لمړي توب ور کوي په دوهم پوړکښې راوستي اودپوهني تعقيب اوتعقب يې ترټولو لمړۍ بللي دي او دلمړي توب تر څنګ يې هغه وروستۍ بللي څو پوهنه او دهغې تر لاسه کول دژوندانه دټولو ) په توګه وکارول سي چې په دې اړه فرمايي(( اطلب العلم من المهدي اللحد)) coverageاجزاو لپاره ديوه کوور (
ژباړه : ((تا سو دپوهني په لټه کښي اوسۍ له زانګو څخه تر لحد ه پوري))
يعني دقبر تر ډورۍ پوري دلته واضح ده چې دزانګو مر حله هغه دوره ده چې انسان په ښه او بد ډول په ژوندانه کښي ښکارندوي دي دحضرت محمد رسول الله (صلي الله عليه وسلم ) پيغام ددې څر ګندوي دي چې مخکنيو خبرو ته دتاييد ټکی کښېږدي حضرت محمد رسول الله (صلي الله عليه وسلم )بيا هم انسان دې ته اړيستي چې دمړيني تر در شله پوهنه پرې نږدي حضرت محمد رسول الله(صلي الله عليه وسلم ) پوهني ته تر هر شي لمړيتوب ور کړي تر دې وړاندي يې ځاي او مهال هم مد نظر نه دي تعين کړي چې فرمايي (( تا سو دپوهي په لټه کښي اوسي که څه هم په چين کښي وي )) که دچين موقعيت دسعودي عرب په پر تله وکتل سي نو دا موږ به ووينو چې دچين هيواد دجغرافيوي کړې په کوم عرض البلد او حجاز په کوم هغه کښي قرار لري ولو که دسايسني پر مختګ له امله اوس مهال دمځکي تناوونه ډېرلنډ سوي او انسان له فضايي او مځکني اړخه په ډېر لږوخت کښي تر خپله ځايه رسوي حال داچې د حضرت محمد رسول الله(صلي الله عليه وسلم))په وختونو کښي لويه سپړلۍ داوښ بلل کېدل برېښي دپيغمبر (ص) هره علمي فرموده چې په هغه وختونو کښي يې ټاکلې ده دهر زمان او مکان لپاره په عيني او قياسي حالاتو کښي داهميت وړ ده که انسانان يې په هر اړخ کښي عملي کړي او دهغوۍ دپلي کولو په لړ کښي دمثبتو او منفي پايلو په نظر کښي نيولو سره ځانته دبقااو رفا پايله په لاس راوړي پوره برياليتوب به يې په برخه وي
دځينو ديني پوهانو په نزد چې نوموړي حديث شريف موضوعي يا ضعيف بلل سوۍ ځينو ديني پوهان يې حديث قدسي بولي ور سره جوخت العلم ضالة مؤمن فاء ين وجدهافهواحق بها
ژباړه : پوهنه دمؤمن يوه ورکه ده هر چيري چې يې داورکه پيدا کړله دهمدې مؤمن حق دي
هغه کره حديث دي چې زماني او مکاني جهتونه خوبيخي په کښي په نښه سوي نه دي بلکه هر چيري چې وي بايد پوهنه تر لاسه سي چې له دې څخه دحضرت محمد (ص) ځراکت جوتېږي چې دا به دنوموړي فرموده وي ځکه ددې حديث په پلي کولو سره نه يوازي پوهنه تر لاسه کېږي بلکي کله چې يوڅوك دپوهي په لټه په اوږده تعليمي سفرځي دسفرترڅنګ دلاري په اوږدو کښي دځان او هدف تر منځ په واټن کښي داولسونو له کلچرونو عنعناتو سره مخ کېږي او خپل کلتور په هغوي پېژني چې دا پخپله يو ټولنېز تړاو را منځته کوي ،دپيداګوژۍ په اساساتو کښي دې پوهني ته سيرعلمي ويله کېږي

# دحضرت محمد رسول اللّٰه(صلي اللّٰه عليه وسلم ) تدريسي مېتودونه:

تدريسي مېتودونه هغه طريقي بلل کېږي چي کوم ښوونکي او عالمان يې دخپل تدريسي پلان دکارولو لپاره په دې اساس پلي کوي څو تدريس يې مؤثر ثابت سي ، زده کوونکي چي له کوم ښوونکي څخه زده کړه کوي په پوره توګه يې ځيني تر لاسه کړي او زده کوونکي دپوهي تر درشله ورسوي په معصر پيدا ګوړيك سيستم کښي تدريسي مېتودونه په لسګونو دي چي اړين يې ((رول پلې عملي درس ، تچ ګېم يا ارتباطي لوبه ، لکچر ، سوال او جواب ،تقابل يا اکرسټ ،ډله يز يا ګروپينګ ، سېرعلمي )) مېتودونه بلله کېږي چي دپخواني درسي سيستم استاد محوري او اوسني درسي سيستم شاګرد محوري کښي پر کار لوېږي

پيغمبر (ص) دخپل استادانه مهارتونو په وړاندي کولوسره په هغه وختونو کښي هم دا سي مېتو دونه وړاندي کړي چي تر ننه پوري له هغه پوره ګټه پورته کېږي

حلقوي يا ګروپي کار ونه

په در سي سيستمونو ، پوهنيزو ټولګيو ، سيمينارونو ، ور کشاپونو او نورو ..... کښي چي کله کوم درسي پروسه تر سره کېږي په دا سي مواردو کښي عموماً دوه ډوله در سي مېتود تر سره کېږې چي لمړي يې په فردي •ډول وي استاد يا ښوونکي يوه تن ته در درس ور کوي دوهم ډول يې دسته جمعي يا صنفي• ډول وي چي دګډون والو شمېر يې تر يوه زيات وي په دې مېتود کښي چي هر څو مره دوګړو تعدد زياتېږي په هماغه اندازه استاد يا ښوونکي ددرسي محتوي پلي کول ، زده کوونکو وفکرونو ته دخپلي درسي محتوي انسټال(( ور انتقالول ))ستونزمن کېږي چي دوخت او زمان په تېرېدو سره ډېروپوهانو ددرسي کاري اسانتيا لپاره بېلابيل ميتودونه پر کار اچولي دي له دې ټولو ښوونکو څخه مخکي کله چي حضرت محمد رسول الله (صلي الله عليه وسلم ) ديو پيغمبر په توګه دلوي الله له لوري ددې جهان تر در شله را غلي دي هغه ښوونکي بلل کېږي چي په درسي مېتودونو کښي ساري نه ليدل کېږي داصحابانو لپاره يې دا سي درسي مېتود پر کار اچولي وه چي تر ننه پوري ديادوسوو نوښتونو تر څنګ چي ترحضرت محمد رسول الله (صلي الله عليه وسلم ) وروسته ښوونکو په وجود را وړي بيا په مستقيم يا غير مستقيم ډول د حضرت محمد رسول الله(صلي الله عليه وسلم) در سي مېتودونو ته اړ تيا لري حضرت محمد رسول الله (صلي الله عليه وسلم )چي به کله اصحابانو کرامو ته قرانکريم تدريساوه هغوي به په حلقوي ډول پر ځا ن دا سي را ټول کړي ووچي پــــــه دې را ټولېدوکښې به دي هم ور سره ملګري وو او دوي ته به يې درس وايه په دې مېتود کښي حکمت دا نغتښتی وو چي هر صحابي (رض) مبارك به په مساوي ډول دنبي (ص) له تدريس څخه ګټه پورته کوله دا لمړي ډول مېتود وو چي په لمړي سر کښي په ګروپي شکل رسو ل الله صلي الله عليه وسلم کار ځيني اخيستی دي دې درسي مېتود ته په اوسنيو درسي مېتودونو کښي ))سيستم درسي مېتود وايي Uد((

درسي روش

حضرت محمد رسول الله(صلي الله عليه وسلم )په ددرس په محضر کښي پخپله چي به کله حاضر وو همدا سي درسي پروسه پر کار اچوله چي اصحابان (رض) يې له درسه برخمن سي ،حوصله په نر مي او متوسط اندازه سره داوازپورته کول د حضرت محمد رسول الله(صلي الله عليه وسلم )داستادانه مهارتونو ځانګړني وې چي ټول هغه دوستان يې ځيني متاثره کېدل داسانه او ساده سلوکو په اړوند به يې پخپله نورو صحابه کرامو ته فرمايل :- له

حضرت انس ((رض)) څخه روایت دي :رسوالله (ص) وفرمايل :
((يسرو ا ولاتعسرواوبشرواولاتنفرو))
، په هغه وخت کښې دموډرنو ايجاباتواولولوازمواواجناسوداسي څرګندڅه په مل ددرسي ځايونه نوه موجودچي ده ښوونځۍ ،ديني مدرسي ،دار الافتاء ،عالي دارالمعليمين ،پوهنتون څخه عبارت دي نوه موجوداونه درسي ، محيطي مواد وه خودپوهني دپلي کولو لپاره اساسي ځاي چي هلته پوهنه تر لاسه سي اوخلګ دديني چارو ،جماعت لمانځه ، او نورو ترڅنګ له مسجده داجتماعي ستونزودحل په موريدګټه پورته کړي هلته په هغه مسجدنبوي (ص )کښې واصحابانو (رض) ته ددرس ور کول پخپله (بلاتشبه) ديوه عالي دارالمعليمين شکل اختياراوه ، هغه په دې معني چي جناب نبي (ص) هلته ددين ښوو نکي روزل او هغوي يې دديني تر ويج تر څنګ نظري او عملي ډول داجتماعي ستونزو او ګټو لپاره استادان روزل حضرت محمد رسول الله(صلي الله عليه وسلم ) داستادانو داستاد په توګه دا سي يو رول لوباوه چي نن هم دنړۍ پروفيسور ،او دوکتورا لرونکي انسان يې له ښوونيز بهير څخه ګټه پورته دا چي دننۍ نړۍ انسانان ياښوونېزپوهان ددرس ماهيت په مادي اړخ اويا هم په معنوي اړخ کښې پر کوم لوري بيايي دنازنين پيغمبر (ص) درسي رول تعقيب دي چي په درسي خصوصيتونو کښې دا رول دنورو پيغمبرانو په پر تله مؤثراو ګټور بلل کېږي دپوهني درواجولو او داسلامي دين دپلي کولو لپاره ليري پرتو سيمو ته يې انسانان دپوهني په لټه ګمارل دګروپي لېږد په درشل کښې به يې هغوي ته په ټينګار سره دا توصيه کوله چي پوه تر لاسه کړي تر دې وړاندي يوازي دا خبر اړينه نوه چي انسانان بايد پوهنه تر لاسه کړي بلکي وليرو سيمو ته دهغوي دلېږ دبله موخه يې دا هم وه چي انسان که له يوې خوا څخه په دباندينو سيمو کښې پوهنه تر لاسه کوي د ليرو پرتو سيمو ته دتګ په لړ کښې هغوي دلاري په واټن کښې دپرتو اولسونو له کلتورونو ، دودونو او عنعناتو خبر سي ، او له دې اړخه وکولاي سي چي دخپل کلتور په پېژندنه کښې دهغو اولسونوتوجه پرځان راماته کړي چي له دې لاري دخپل او پردې کلتورپه پوهېدنه سره يو عامه ټولنيز تفاهم په وجود را ځي پايله يې همدا سوه په جودرا غۍ چي ترننه پوري communicationچي په هغه وختونوکښې عربواوعجموترمنځ دوروری يوداسي تړاو دعقيدتي او په ځينومواردوکښې دکلتوري دودونو په لرولو داسلامي نړۍ ارتباطي اړيکي سره بسته دي سېرعلمي ((پوهنيزيون))
حضرت محمد رسول الله(صلي الله عليه وسلم ) دجهاد دليري واټنه اهدافو په مرسته دانسانانو ترمنځ ددوستۍ ګمارنه کوله دليري سيموپرلوري دپوهني په لټه دخلګو ګمارنه بل ددې لپاره هم اړينه وبلل سوه چي انسانان بايددسېرعلمي په ډول له يوې منطقې څخه دبلي منطقې پرلوردخوځښت په پلي کولودنووسيمو له جغرافيايي ،تاريخي اوستراتېژيکي موقعيتونو ،مناظرو ،او تاريخي آبداتوله پېژندني سره مخ سي اوله هغوتاريخي دا ستانونواو په قران کريم کښې دالله له لوري دراناژل سووايتونوپه رڼاکښې دپيغمبرانودکيسو ،دهغوي دتبليغي او پيغمبري کار نامو ،او بالمشا هده دهغوي دځايونوداوسېدو ، زيارتونو له لېدو څخه خبرسي چي دا پخپله ددې ګواه ده چي دخپلي ساحې څخه دباندي دپوهني په تر لاسه کولوسره ښه ـ ښه مطالب ، مطالب او مفاهيم ، مفاهيم او واقعيتونه يې په برخه سي د ((العلم ضالة مؤمن فاء ين وجدهافهواحق بها))دمبارك حديث په شېوه ويلاي سوچي دسيرعلمي دتدريسي مېتودمبتکرهم پخپله حضرت محمد(ص)دي ځکه چي قولاًيې ځاي نه دي ورته تعين کړي او عملاًيې دخپل ساحې څخه دباندي صحابه (رض) دخلګو دپوهوني او زده کړي تر لاسه په موخه لېږلي دي ګروپي کار

دهغه په هره جمله کښي چي دهري موضوع په ارتباط یې ویلې وي څومره مفاهیم په څومره اندازونو کښي پراته وي ؟! په ګروپي ډول دپورته یادوسومفاهیم هغه درسي پدیدې بلل کېږي چي نن هم په مو ډرن جهان کښي په موډرن ډول ښوونکي او استادان کار ور ځیني اخلي

سوپر وېژن

درول پلې یا عملي درس په جریان کښي د حضرت محمد رسول الله(صلي الله علیه وسلم ) در سي او استادانه ځراکت ددې جوګه وو چي ټول ور سره مل کسان په یو ډول تر تعمیل او تا ثر لاندي را ولي ، په لفظي ډول دلمانځه ور زده کول او په عمل کښي دهغه ور ښوول •پخپله ددې ثبوت ښیي چي نبي (ص) به دجماعت پروخت ترهغه تکبیر تحریمه نه پیلاوه ترڅوچي پر لمانځه ولاړ صفونه ترنظرتېرنه کړي ،اودیوه کره اومنظم صف په تر تیبولو سره ځانه ته دلمانځه دپیل ډاډورکړي په دقت سره دمقابل اړخ او رېدنه دکارپه تر سره کولو سره دهر اړخه دکارد تعقیب نظارت او مشاهده ددې ګواه دي چي حضرت محمد رسول الله (صلي الله علیه وسلم )په هر کارکي له دقیقي ځارني څخه برخمن ووچي په درسي چارو کښي له هره اړخه ځارنه دسوپر وېژن په اصطلاح کارول کېږي ددې پورته یادو سوو پېښو څخه مونږته جوتیږي چي حضرت محمد رسول الله (صلي الله علیه وسلم ) دپیغمبري ترڅنګ څومره کامل انسان وو اوپه څو مره انداز کښي یې کولای سواي چي په هغه وختونوکي دخلګوترذهنونو دقرانکریم ، مفاهیم ور وروسوي ، هغوی پوه کړي ، هغوی ته له همدې لاري دنجات لاره پرانېزي او دنبك مر غی په زېور یې رنګین کړي ، مونږ ته ددې ټولویادونو عکساً هغه دامي په نوم را یادېږي اوخلګوته دځینوکسانولخواداانتباه ورکوله کېږي چي حضرت رسول الله (صلي الله علیه وسلم ) امي وو چي مفهوم یې په خلګو کښي ( العیاذ بالله ) په بېسواده سره پلي کوي حال دا چي د(( امي )) داسم مفهوم پخپله دامت دمخکښ او رهبر په معني پلي کېږي نه دبېسواده په مفهوم .

عمومي هدف

دپوهني په پلي کولواودهغې په رواجولوسره دحضرت محمد (ص)هدف داووچي انسانان وکولاي سي څنګه چي ښایي په هماغه ډول دانسانیت له مفهومه کارواخلي اودپوهني له لاري انسانان په دې پوه سي چي دخپلوکارونودترسره کېدوپه ملحوظ په مواءدبانه ډول بانزاکته او صمیمي ژوندولري پراېدیولوژیکي اوټکنولوژیکي علوموبرلاسي وي او ورسره جوخت دپوهي په ترلاسه کېدودومره هوښیاران واوسي چي هروخت دځان او نوروحقوق وپېژني دغفلت اوناپوهی په جال کښي را ګرنسي یوه او بل ته ددرد درمل سي

خصوصي هدف

دپوهني په توسط دالله (ج) ټول هغه اوامر چي دعالم بشریت دسوکالی اونېکمرغی لپاره دالهي نصوصو په در شل کښي را نازل سویدي انسانان یې پرځان عملي کړي دپوهني په تر لاسه کولودخداي فرامین په ښه توګه ترسره کړي ترڅو دنیوي او اخروي سورخ رویي په برخه اودشیطان له جال څخه ځان وژغوري

مقصد

حضرت محمد رسول الله (صلي الله علیه وسلم) په دې پوهېدئ چي په یونواخته ډول نسي کېداي چي په ټولنه کي دي تعلیم عام سي لهذا دګروپي کار ،فردي تدریس ، لیکچر • ،سوال او جواب ،رول پلې له میتودونویې کار اخیست اودهغې په پلي کلو سره یې ځان دعلمي هدف تر مرکزه رساوه

مطلب

په معاصروتعليمي پروګرامونو کښي همدا درسي روشونه دي چي اوس يې هم بايد موږ پرکارواچوو اودامکان ترحده داسي کار تر سره کړو لکه څه ډول مخکي دنوموړي لخوا عملي سويدي څو په دې سره در سي روشونه مؤثر ثابت سويو


په درنښت او اسلامي ورور ولي

کشر مونوراحمد (( قرانمل ))

دلمړنۍ احمد شاهي لېسې مدير

غريبك كتابتون كندهار ۱۳۸۶

## دليكوال لنډه پېژندنه:




نوراحمد((قرانمل)) دحاجي عبدالحميد(کاکړ)زوي دکندهارښار دڅلرمي ناحيې د((باميزو))کوڅې اصلي استوګن ،ددريمې ناحيې په کاکړوکوڅهٔ کې زوکړی فعلاًدکندهار ښار دکارته معلمين استوګن دي ،دشخصي ديني علوموترڅنګ په ۱۳۸۲ لمريز کال کښې دکندهارعالي داجتماعياتوله ځانګې فارغ سوي دمتفرقولنډه مهاله تعليمي سيمينارونوترڅنګ ددوشکالرشيپونو په درلودلو سره دپاکستان دپېښور ښار له تعليمي مرکزکښې برخه کې او دجاپان هيوادداوکيناوا په ERICدکوچنيانو روزني څخه فارغ سويدي،دښوونکي opicښارکي دنړيوال تعليمي(( ( توب ترڅنګ يې په ځينواداري ځانګوکښې يې دندې ترسره کړيدي.

*لاندي اثاريې تراوسه په چاپي بڼه لري :*

۱ : ادبي ډېوه نثري ليکنه

۲ : زما غوښتني نثري ليکنه

۳ : ايا غريبك پېژنې ؟! نثري ليکنه

۴ : ټکۍ نثري ليکنه

۵ : دغريبك خزانه نثري ليکنه

۶ : داوښکو بهير شعري ټولګه

۷ : خطاب شعري ټولګه

۸ : دادونو ځولۍ شعري ټولګه

۹ : ريښتونې استازی همدا ليکنه